مورچل

دیارلسم کال، پنځمه، پرلپسې ۱۲۹مه کڼه،
رمضان المکرم ۱۴۴۰هـ ق، مـــئ ۲۰۱۹م

کابل ته نور څه ور پاته او څه باید وکړي؟!!

دملګي تلفاتو اصلي عاملین څوک دي؟

دیپلماسي کامیابي طالبانو

- د اسلامي امارت امراء د کردار اتلان
- د غني قاتل تیم د کوندو رندو د آهونو په لمبو کې
- ارک په فحشاوو کې هم خپله شمشمه ښکاره کره!!
- د مشرتابه د اختریز پیغام څو مهم ټکي
- د الفتح عملیاتو په وراندې د دښمن وار خطایي
- د اسلامي امارت د بریاوو تسلسل

ملا برادر

د جهادي دیپلوماسي نوښتګره څېره

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

ديارلسم کال پنځمه، پرلپسې ۱۲۹مه ګڼه،
رمضان المبارک ۱۴۴۰هـ ق مې ۲۰۱۹م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	د مشرتابه د اختریز پیغام څو مهم ټکي	۲
۳	دغني قاتل د کوندو رندو د آهونو په لمبو کې	۵
۴	د ملکي تلفاتو اصلي عاملین څوک دي؟	۷
۵	دیپلوماسي کامیاب طالبان	۱۰
۶	ارګ په فحشاوو کې هم خپله شمشه ښکاره کړه!	۱۳
۷	د اسلامي امارت د بریاوو تسلسل	۱۵
۸	د یوې تیلفوني پوښتنې د ځواب په پلمه	۱۹
۹	د مسکو د غونډو جریان د امریکا د بدماشۍ	۲۲
۱۰	د اسلامي امارت امراء د کردار اتلان	۲۶
۱۱	شهادت او زموږ مبارزه	۳۰
۱۲	د ولسي وګړو قتل عام او د نړۍ دردوونکې خاموشي	۳۲
۱۳	د الفتح عملیاتو په وړاندې ددښمن ورخطائي	۳۶
۱۴	ادلب کې ستر وحشت او د غربي نړۍ ستر منافقت	۳۹
۱۵	ملا برادر د جهادي دیپلوماسۍ نوښتګره څېره	۴۵
۱۶	د اسلام غزوات او سرایا	۴۷
۱۷	ښه او بده خاتمه، دوه کسان څنګه مړه شول؟	۵۱
۱۸	شهید مولوي محمد بشیر زاهد تقبله الله	۵۳
۱۹	جنګي جنایتونه (مې)	۵۶
۲۰	د مورچل وړمې	۶۱
۲۱	د ۲۰۱۹م کال د اپریل دمیاشتې جنګي جنایتونه)	۶۳

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی :

ایوب صافی | حکمت
معین احمد | حافظ سعید
حسن زوی | موسی فرهاد

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

کابل ته نور څه‌وړ پاته

او څه باید وکړي؟!!

که څه هم په عملي ډول يې له وسه اوتوانه وتلې خو په ظاهري ډول چې کله ناکله کابل چارواکي داصلاحاتو، پرمختګ او امنیت کومي لاپي شاپې وهي، ښایي چې حقایقو ته بیاپه حقیقی ډول تسلیم شي او یو لړ واقعیتونه ومني .

که په ړښتیا هم کابل اداره دامریکا په منګول کې نه وي او په ګوډاګیتوب يې بده مني، نو له خپل اختیار څخه دې کار واخلي او دهیواد دناورین ختمولو په پار دې قدرت هغه چاته پرېږدي چې دحکومتولۍ دواړه استعداده پکې دي، هم يې په نظامي قوت نړۍ معترفه ده او هم يې سیاسي استعداد ته سرټیټوي اوپه دې وروستیوکې يې عملاً وښوده چې داشغال په نه شتون کې ټولې افغاني پرګنې په ځان راټولولای هم شي .

په دې ډول به يې امریکا هم له نړیوال شرمه ژغورلې وي چې له افغانستان څخه په پرده کې دوتو هڅې کوي او هم به يې هغه بار له اوږو سپک شي چې تر منزله د رسولو هیڅ توان يې نه لري .

انارشیزم، نه قانونیت، بې امنیتي، خپلسري، غصب، فساد، چور، چپاول، ظلم بې عفتي او فحشا هغه څه دي چې دکابل اداري دحاکمیت اساس ګڼل کیږي، همدا ورپاته دي او په همدې لاسته راوړنو! ولاړه ده .

په مقابل کې يې اسلامي امارت چې دامنیت، ارضي تمامیت، سرتاسري حاکمیت، او دولسونو د ارادې دنمایندګۍ مخینه او وړتیا لري اوس هم هغه قوت او پوخ بنسټ دی چې ولسي اراده يې اساس او د پورته ناخوالو له منځه وړلو ته اساسي علاج دی.

د مشرتابه د اختریز پیغام
څو مهم ټکي

عبدالرحیم (ثاقب)

هر کال له معمول سره سم د اسلامي امارت مشر تابه د اختر په مناسبت د هیواد د مهمو پیښو او قضایاوو په اړه اختریز پیغام خپروي.

د مشر تابه سرښی پیغام هم د تیرو هغو په څیر د وخت پر اهمو پوځي، سیاسي او ټولنیزو موضوعاتو حاوي و چې د هغو له جملې څخه یې څو په لاندې ډول د یادونې وړ دي:

۱ – تر هرڅه وړاندې یې د ولسي مقاومت د جهادي سنګرونو د اتلانو اتلولیې او سرښندنې یادې کړې او هغه یې تقدیر کړي.

د مشرتابه له لوري د ترټولو مهم پیغام په پیل کې د جهادي اتلانو د اتلولیو یادښت او تقدیرول دا معنا ورکوي چې هغوی ته تر هرڅه وړاندې همدا مجاهدین او د هیواد د آزادي لپاره د هغوی مجاهدات او سرښندنې د لومړیتوب حق لري.

په همدې اولویت سره د سنګر مجاهدین هم د خپل مدبر مشر اطاعت د خپل ځان دیني فریضه بولي او تر بل هرڅه وړاندې د هغه د احکامو او اوامرو منلوته ترجیح ورکوي.

د ولس د جهادي سرښندنو د تقدیرولو په اړه د مشرتابه په پیغام کې داسې ویل شوي:

((د الله تعالی په نصرت او د مؤمن ولس په ملاتړ په پوره باورسره تاسو ته ډاډ درکوم چې د اشغال په وړاندې ستاسې برحق جهاد او مقاومت نور د بریالیتوب سرمنزل ته ورلنډشوی ان شاء الله تعالی.

بهرني اشغالگر که هرځومره په خپل پوځي او تخنيکي قوت مغرور دي او د بهوزله افغانانو خلاف يې له وحشته ډک موقف نيولی؛ خو بياهم د هغوی ټول پوځي غرور ستاسو د دفاعي مقدس جهاد په وړاندې په شکست محکوم شوی او ستاسو جهاد او تاريخي سرښندنې د دې لامل گرځيدلې چې د هيواد د ټولو پوځي او سياسي اقداماتو ابتکار اسلامي امارت تر لاسه کړي.

د دغه ابتکار په ترڅ کې که اسلامي امارت په جهادي جبهاتو کې فاتحانه عمليات ترسره کوي او که په سياسي ډگرکې له امريکايانو سره د افغانستان د اشغال د خاتمې لپاره مذاکرات کوي د دې دواړو غرض او هدف د اشغال خاتمه او داسلامي نظام قيام دی.))

۲- د پيغام دوهمه فقره پر جهادي لاسته راوړنو او د هغوي په ترڅ کې له امريکايانو سره د مذاکراتي بهير پر وضعيت محتوي ده.

په يادې فقره کې په ډيرو ښکاره او رسا ټکيو کې د مذاکراتو په اړه د اسلامي امارت د جهادي موقف سپيناوی شوی چې په يوه گوښه کې يې داسې لولو:

((ـــ په دې خبره بايد دوست او دښمن پوه شي چې مورږ په سياسي تعاملاتو کې پر دوه مخي سياست هيڅ ډول باور نه لرو، د مذاکراتو په پلمه وقت تلفي، تر پردې لاندې سازشونه او دوه گونی چلند مو نه خوښ دی او نه يې د بريالیتوب لار بولو.

ـــ هيڅوک دې داتمه نه راڅخه کوي چې خپل هدف ته تر رسيدو مخکې به د جهاد گرم سنگرونه ساړه او څلويښت کلنې قربانۍ هيرې کړو)).

۳- د هيواد د سياسي واک د مشارکت په اړه چې يوه ترټولو مهمه او ځينو سياسي جريانونو ته د پوښتنې وړ موضوع ده هم د مشرتابه پيغام کې اړين وضاحت شوی دی.

ځکه د هيواد د راتلونکي نظام نوعيت او په هغه کې د ټولو افغانو مشارکت هغه څه دی چې هم خپله افغانان او هم نړيوالې ټولنه د هغه په اړه بيلابيل نظرونه لري.

خو د اسلامي امارت مشر تابه په خپل پيغام کې هم د افغانانو او هم د نړيوالې ټولنې انديښنې په لاندې وضاحت سره ځواب کړې دي:

((اوس د دې وخت راغلی چې ټول هيوادوال په يوه خوله د اشغال د خاتمې، اسلامي نظام د حاکميت او ملي يو والي متحد غږ پورته کړي.

اسلامي امارت د واک انحصار نه غواړي، مورږ پر دې باور يو چې ټول افغانان به په ريښتيني توگه په نظام کې خپل ځان ووينې.

د موجوده بنسټونو په برخه کې به اسلامي امارت د اصلاح او سمون له لارې د اسلامي اصولو په رڼاکې د آینده افغانستان لپاره مثبت کار واخلي))

۴- په پیغام کې تر امریکایي اشغال وروسته د افغانستان د بهرني سیاست فکتورونه هم مشخص شوي او نړیوالې ټولنې، ګاونډیانو او ټولې نړۍ ته دا ډاډ ورکړل شوی چې راتلونکی افغانستان به نه د چا د مصالحو په ضرر کارول کیږي او نه به بل چاته په ناسمه توګه د افغانستان د ځمکې او فضاکارولو اجازه ورکول کیږي.

د مشر تابه په پیغام کې دغه فقره د هغه د نورو فقراتو په څیر ډیره مهمه فقره ده.

ځکه افغانستان د خپل جیوپولټیک موقعیت له مخې تل د نړۍ د لویو قدرتونو د تخت او تاز مورد وي.

د نړۍ زبرځواکونه په دې خاطر د افغانستان د لاندې کولو هڅې کوې چې له همدې ځایه خپلو نورو سیاسي، پوځي او اقتصادي پلانونو ته ځان ورسوي.

خو د مشرتابه په پیغام کې هم له افغانستان څخه د ناوړې استفادې او هم له هغه څخه د ابزارې وسیلې په توګه د ناسمې کارونې په اړه پوره وضاحت شوی دی چې په یوه برخه کې یې داسې لولو:

((د اسلامي امارت په اند د یوه سوله ییز افغانستان وضعیت دا ایجابوي چې دلته نور له خارجي اشغال نه خلاص یو داسې افغانستان وجود ولري چې نه یې څوک خپلواکي او حریت نقض کړي او نه یې هم ځمکه او فضا د بل چا په ضرر وکاریږي.

اسلامي امارت د ټولې نړۍ او خاصتا د سیمې له هیوادو سره په مثبتو اړیکو باور لري او له ګاونډیانو سره د ښه ګاونډیتوب اصولو ته ژمن دی؛ خو امریکا او په کابل کې د هغوی تپل شوې اداره دلته د جګړې د غزولو، قومي، سمتي او سیاسي تعصباتو را پارولو له لارې دا هڅه کوي ترڅو زمور هیواد د ټولې سیمې او ګاونډیانو په وړاندې د یو سنګر په حیث وکاروي، فتنه ګرې ډلې راپیدا او تقویه کړي، خو لله الحمد د مجاهدینو په وړاندې فتنه او فتنه ګره مفسده ډله له شکست سره مخ او مغرور امریکایي جنرالان او داخلي ملګري یې د افغان ولس جهادي عظمت ته سر ټیټې شوي دي ...قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ (۵۸) سورةیونس..))

د اسلامي امارت د مشر تابه سرښې پیغام که له سره تر پایه ښه په غور او توجه ولوستل شي په هغه کې د افغانستان د روان او راتلونکی وضعیت او همدا راز دهغه د سیاسي نظام په اړه ډیر ښه وضاحتونه شته دي چې هم خپله د افغانانو او هم د نړیوالې ټولنې پوښتنې په ښه توګه ځوابوي او هم په عین وخت کې د اشغالګرو امریکایانو پلمو ته قانع کوونکی استدلال ویل شوی دی.

د غني قاتل ټيم

د کونړو رنړو د آهونو په لمبو کې

قاري سعيد خوستی

د غني د ټيم د تيرو څلورو کلونو په ټولو اړخونو نه غږيږو يواځې د هغه په ناکاميو، رسواييو، ذلت، او منتها د هغه په سياسي زنکدن به تم شو چې د دې ټولو لامل د دې چاودپوندي ولس ښيراوې او ازار دی چې سړی يې دې حالت ته راورسولو.

د امنيتي ټرون په لاسليک امريکايانو ته قانوني جواز په لاس ورکړل شو چې هر ډول جنايت، وژنه کوي د کابل اداره يې په وړاندې په قانوني لحاظ پابنده ده چې هيڅ ونه وايي، تردې چې دوی د خپلو سرتيرو د وژلو پوښتنه هم نه شي کولاي چې په تيرو څلورو کلونو کې دا کار څو ځله تکرار شو.

د غني په راتګ شپني عمليات بيرته پيل شول، وژنې بمباری دومره زياتې شوې چې په کليو کې عام کليوال د چاپو او وژنو له ويرې د شپې ښارونو ته هوټلونو ته ځي او هلته په پيسو شپه تيروي ځکه د بليک واټر کرايه شوي قاتلان د چاپې پرمهال دا پوښتنه نه کوي چې ته څوک يې او چې کاره يې بلکې يواځې وژل کوي.

د طالبانو په وړاندې دغه وحشت او چاپو کومه څرګنده ګټه نه ده لرلې، کندز دويم ځلي سقوط شو، فراه سقوط شوه غزني سقوط شو او د سيګار د راپور پر بنسټ د غني په دوره کې د طالبانو د واکمنۍ ساحه ۲۳ سلنه پراخه شوې.

د غني قاتل ټيم په خپله دوره کې يواځې بې ګناه افغانان، ښځې او ماشومان په ډيره بې دردۍ ووژل تردې چې دغو امريکايي کرايه شويو مزدورانو د افغانانو په ناموس هم لاس پورته کړ او په تير يو کال کې ځلور ځله د چاپې پرمهال افغان ميرمنې زندان ته کش کړل شوې چې د امريکايانو په تير ټول اشغال کې دا کار نه ؤ ترسره شوی او که کوم ځای کې داسې پيښه شوي هم وي امريکايانو بيرته بښنه غوښتې او هغه زنانه يې خوشي کړي خو د د بليک واټر کرايه شويو قاتلانو په دغو افغان ميرمنو هم د القاعدې ټاپه سريخ کړه.

د نړۍ په تاريخ کې کافرو پاچايانو په نړۍ کلونه کلونه واکمني کړې خو ظالم واکمن که مسلمان هم وي

الله تعالی مهلت نه دی ورکړی او ډیر زر یې په زمکه ویشتی دی.

د هیواد په لر او بر کې د همدغو مظلومانو چې دا څلور کاله په ډیره بې دردۍ د غني د قاتل ټیم په قوماندہ ووژل شول ښیرې او ازار دی چې غني تر بل هر وخت له سخت حالت سره مخ دی.

غني په کورنۍ او بهرنۍ کچه له سختې انزوا سره مخ دی او په دې وروستیو کې ولیدل شول چې نړیوالو د غني د اداړې سره د افغانستان د نماینده جهت په توګه تعامل ونکړ.

د امریکا د خارجه وزارت ځانګړی استازی دا اوه میاشتې کیږي چې له طالبانو سره په خبرو بوخت دی خو غني د دې خبرو له ډیرو جزیاتو بې خبره ساتل شوی چې له ډیرې حیا وروسته د کابل اداړې چارواکو خپله چوپتیا ماته کړه او په خلیلزاد یې توندې نیوکې وکړې.

په کور دننه له څلورو میاشتو هلو ځلو، منډو ترړو وروسته بیا هم ډاکټر غني ونتوانېد چې د طالبانو سره د مذاکراتو لپاره داسې یو پلاوی جوړ کړي چې د ټولو احزابو نمایندګان پکې ګډون ولري هغه څه چې خلیلزاد یې په ټینګه د کابل اداړې له چارواکو څخه مکررا غوښتنه کړې.

له اختر څخه دوه ورځې وړاندې ډاکټر غني سعودي ته لاړ او هلته یې د عمران خان سره ولیدل او په ارګ کې یې بیا د اختر لمانځه پرمهال وویل د پاکستان بلنه یې منلې او په راتلونکې څو اونیو کې به دې هیواد ته سفر وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې په هیواد کې د هر برید څخه وروسته غني د برید پړه مستقیماً په پاکستان اچولې او ډیر وخت یې د غچ اخیستلو اخطار هم ورکړی.

ډاکټر غني چې د ارګ د بودیجې څخه یوه غوښنه برخه په تبلیغاتو او سوشل میډیا مصرفوي دا څلور کاله یې د افغانانو د وژلو لپاره همدا یو جواز وړاندې کاوه چې وژل شوی کسان پنجابیان دي. کله چې د کابل اداړې او امریکایانو په ګډه افغانان وژلي تبلیغاتي ماشین یې وژل شوي کسان پاکستاني جنرالان بللي. د کندز د مدرسې ماشومان، په هلمند کې برید، په کونړ کې برید، په وردګو کې برید، په لوګر او جلال اباد کې برید، په فراه او هرات کې بریدونه، چې له هر برید وروسته همدا خبره کیږي چې دلته پاکستاني جنرالان وژل شوي.

څو میاشتې وړاندې ډاکټر غني د پنستون ژغورنې غورځنګ ځینو غړو ته په خطاب کې وویل: (زما ټویټونه به درسره به یې) دا هغه مهال چې نوموړي د غورځنګ په پلوی یو ټویټ وکړو او مبلغینو یې ډیره هوا ورکړه.

خو د دې هر څه باوجود، تیر ځل خلیلزاد له غني څخه په ټینګه غوښتي وو چې له پاکستان سره اړیکې ورغوي چې غني په ټولو اخلاقي کړښو او د افغانستان په غرور پښه کیښوده او لومړی یې حمدالله محب پاکستان ته ولیږه او دا دی اوس یې خپله هم د تړ اعلان وکړو.

دا د ډاکټر اشرف غني او اداړې لپاره یې یو ډیر له ذلت ډک حالت دی.

د دې ټولو رسواییو او انزوا علت د دې ملت د بې چاره مظلومان ښیرې او ازار دي.

جاوید علي خپل

د ملکي تلفاتو اصلي عاملين څوک دي؟

په دې ورځو کې د ملکي تلفاتو موضوع يوه له ګرمو او مورد بحث موضوعاتو ګرځيدلې ده. د افغانستان بحران چې په ۴۱ کال ګډيږي، اوږدوالی يې د دې باعث شوی چې زموږ اولس د هر څه په اړه عاطفي چلند وکړي. د غميزو ډيرښت د خلکو زړونه نري کړي چې دښمن هم دغه حقيقت درک کړی دی نو ځکه يې د ملکي تلفاتو موضوع په رسنيو کې دومره ګرمه ساتلې چې بالاخره يې له زياتره خلکو اضلي او اساسي موضوعات هير کړي، او د جګړې په بنيادي عواملو د بحث پر ځای يې د ملکي تلفاتو موضوع برجسته کړې ده.

د دښمن رسنيو تبليغاتي فضاء داسې عياره کړې چې که په جګړه کې هر چا ته، له هرې خوا زيان اوړي نو د مسؤليت ګوته يې مجاهدينو ته نيسي. دوی مجاهدين داسې معرفي کوي لکه جګړه چې دوی شروع کړي وي، نو ځکه نه يوازې د جګړې ټول مسؤليت په مجاهدينو اچوي بلکې د اوربند غوښتنه او د جګړې د پای ته رسولو خواست هم يوازې له مجاهدينو کوي.

راځئ دلته دا موضوع وڅيړو چې په روانه جګړه کې د ملکي تلفاتو اصلي عاملين څوک دي؟ کوم اړخ عامه خلکو ته ډير زيانونه اړوي؟ او د جګړې جرمي مسؤليت د چا په غاړه دی؟؟ دلته په لنډو د ملکي تلفاتو په اړوند لومړی د مجاهدينو کردار او مسؤليت او ورپسې د مخالف لوري (اشغالګرو او ګوډاګيانو) حالت ارزوو، تر څو عنوان شوې پوښتنې ته ځواب ومومو.

مجاهدين او ملکي تلفات

که څه هم په رسنيو کې مجاهدين په دې تورنيږي چې په اصطلاح (افغان وژنه) يې روانه کړې، ملکي خلک وژني او نور ډول ډول تورونه. مګر په حقيقت کې د افغانستان اوسنی جهاد په ملي او بين المللي کچه هغه جګړه ده چې په خورا لوړ احتياط او جديت جهادي عمليات ترسره کيږي نو ځکه يې ملکي تلفات هم د بلې هر جګړې به نسبت کم دي.

زموږ تاسو ياد دي چې د شوروي ضد جهاد په ۱۴ کلونو کې د ولسي افغانانو مرګ ژوبله يو نيم ميليون ته ورسيدله. په عراق د امريکا له برید وروسته په څو کلونو کې تر يو ميليون پورې خلک ووژل شول. د سوريې په جګړه کې هم تر نيم ميليون زيات خلک وژل شوي او تر لس ميليون زيات مهاجر شوي دي. اما د افغانستان اوسنی

جهاد چې اتلس کاله يې پوره کېږي د ولسي مرګ ژوبلو، مهاجرت او عامه ناخوالو له درکه يوه استثنايي جګړه ده. د مجاهدينو لوړ احتياط، د قومندې وحدت، د عامو خلکو سر او مال ته واقعي پاملرنه او د جهاد د اسلامي آدابو رعايت د دې باعث شوی چې د جهادي عملياتو ټول تمرکز په دښمن راټول شي او عام خلک حتی الوسع د جهادي بريدونه له اذيت څخه خوندي شي. د مجاهدينو د همدې لوړ احتياط او اخلاقي ژمنتيا پايله دا راوتلې چې په اتلس کلنه جګړه کې د ملکي تلفاتو کچه تر سل زره هم نه رسيږي او کوم تلفات چې رامنځته شوي هم مطلق اکثريت يې د دښمن لخوا دي نه د مجاهدينو لخوا.

اسلامي امارت په خورا لوړه کچه د ملکي تلفاتو د مخنيوي موضوع ته ژمنتيا لري. په تيرو اتلسو کلونو کې مورِ د اسلامي امارت د زعامت داسې پيغام نه دی ليدلی چې د ملکي تلفاتو د مخنيوي خبره په کې نه وي يادە شوي او مجاهدين دې موضوع ته نه وي متوجه شوي. له دې علاوه د نظامي کميسيون په تشکيل د ملکي تلفاتو د مخنيوي لپاره ځانګړې اداره جوړه ده چې مستقل تشکيلات، برنامه او د سمع شکايت تيلفوني شميره لري. دغه اداره روزمره په ژوندۍ بڼه د ملکي تلفاتو موضوع څاري، که له مجاهدينو تخلف کيږي يا خلکو ته زيان اوړي سمدستي په موضوع کې مداخله کوي او د هرې قضيې په اړه خپل اجرايوي صلاحيتونه په کار اچوي.

په جهادي بريدونو کې د ملکي تلفاتو د کمبود بل علت دا دی چې مجاهدين اوس خپل ټول عمليات داسې طراحي کوي چې د ملکي زيان احتمال په کې نه وي. د هر فدايي برید نه وړاندې د ملکي تلفاتو د مخنيوي اړخ په دقت سنجول کيږي. په تعرضي بريدونو کې له رسا ويشتونکو، دروبينونو او نورو پرمختللو وسلو استفاده کيږي، په جهادي اړخ کې د ملکي تلفاتو يوازينی عامل ځمکني ماينونه دي، چې اوس زياتره په ريموټ کنترول شکل عياريږي، بله دا چې د جګړه ييز وضعيت له بدلون سره چې نور مجاهدين د چريکي بريدونو په ځای تهاجمي او جبهه يي بريدونه کوي د ماينونو استعمال ته ډير ضرورت هم نه پيښيږي نو ځکه د مجاهدينو په بريدونو کې د ملکي تلفاتو کچه تقريبا په نشت حساب ده.

د دښمن لخوا ملکي تلفات

همدا اوس که بې طرفه رسنۍ او د الاماره ويب پاڼې يا نن ټکی اسيا، عزم، کابل نيوز په شان سايټونه وځارئ نو به خبري برخه کې به يې د اشغالګرو او ګوداګيانو لخوا د درنو ولسي مرګ ژوبلو خبرونه ولولئ. په افغانستان کې داسې شپه نه سهار کيږي او نه داسې ورځ بيګا کيږي چې د دښمن ځواکونو به بمبار، چاپو، ډرون بريدونو، مخامخ ډزو، د هاوان بريدونو او نورو بيلابيلو حملو لسګونه ملکي افغانان نه وي وژلي.

په دې وروستيو کې شوې ځيرنې او ارزونې ثابتوي چې د دښمن لخوا په دغسې بريدونه کې روزانه تر ۳۰ تنه زيات ولسي افغانان په شهادت رسيږي. هره شپه د ولسي-خلکو په کورونو چاپې وهل کيږي. خلک په خپلو کورونو کې په ډزو شهيدانيږي. د چاپو په مهال د خلکو کورونه، دوکانونه، جوماتونه او حتی ښوونځي او کلينکونه په بمونو الوځول کيږي. شخصي شتمنی، پيسې او قيمتي توکي يې غلا کيږي او له مرګ ژوبلو علاوه خلک په بې توپيره توګه په چورلکو کې زندانونو ته وړل کيږي.

د ملکي تلفاتو بل عامل ړانده بمبارونه او ډرون بریدونه دي. که په کومه سیمه کې په جګړه کې امریکایي یا داخلي عسکرو ته زیان اوړي، د اشغالګرو الوتکې ولسي کورونه بې توپیره بمباروي او درنې غمیزې رامنځته کوي. له دې علاوه ډرون بریدونه اوس په کلیوالو سیمه کې د هرې ورځې کیسه ګرځیدلې. بې پیلوټه الوتکې په متداوم شکل ګرځي او چې په هر چا یې شک راشي وربانديې برید کوي چې له مله یې تر نیمایي زیاته مرګ ژوبله ولسي خلکو ته اوړي.

د ولسي مرګ ژوبلې بل لوی عامل د داخلي عسکرو د هاوانونو او درنو وسلو ډزې دي. چې په هره سیمه کې د عسکرو په پوسته برید وشي عسکر ورځیرمه کلیو ته هاوانونه سیخ کړي او بې خریطې ډزې پرې کوي. دغسې رندې ډزې روزانه ولسي خلکو ته مرګ ژوبلې اړوي. حتی ډیر ځله خو داسې هم پیښ شوي چې یوه هاوان تر شلو پورې ولسي خلک وژلي وي، لکه د هلمند په سنګین کې چې د دښمن د هاوان مرمۍ د واده په مراسمو ولګیدلې او د ناوې په ګډون یې لسګونه ماشومان او ښځې په شهادت ورسول.

دغه ټول حقائق ثابتوي چې د ولسي- مرګ ژوبلې اصلي عاملین اشغالګر، د هغوی ګوډاګیان او د هغوی بې رحمه جنګي ستراتیژۍ، بمبارونه او جنګي اخلاقو ته نه ژمنتیا ده. دې ته په پام سره که د جنګ د خاتمې یا اوربند غوښتنه کیږي باید له همدې بهرنیو او داخلي قاتلانو وشي. که له چا سره د افغان ولس د سر او مال د خوندیتوب غم وي باید د ملکي تلفاتو اصلي عوامل وپیژني او د مخنیوي لپاره یې لاس په کار شي. که مجاهدین بالفرض په یو اړخیز ډول له جګړې لاس واخلي هم، په ملکي تلفاتو کې ځکه کمی نه راځئ چې اصلي وژونکي مخالف لوری دی چې تر ۹۰ فیصده د زیاتو ملکي عاموژنو او جنګي جنایاتو مسؤلیت ورلغاړې دی. نو ځکه د ملکي تلفاتو له موضوع سره د سرسري برخورد په ځای باید واقع بینانه چلند وشي تر څو اصلي عاملین وپیژندل شي.

دیپلماسی کامیاب طالبان

حبیبی سمنگانی

نماینـدگان طالبـان در اواخـر مـاه مـی ۲۰۱۹ میلادی برای سومین بار در جریان یکسال اخیر، بـه مسـکو پایتخـت فدراسـیون روسـیه سـفر نمودنـد. هدف از سفر سه روزهء هیئت چهارده نفری طالبان به سرکردگی ملا عبدالغنی برادر - معاون سیاسـی و رئـیس دفـتر سیاسـی امـارت اسـلامی در قطـر - اشـتراک در نشسـت صـدمین سـالگرد روابـط دیپلماتیـک افغانسـتان و روسـیه و نیـز حضـور در دومـین نشسـت تفـاهم بـین الافغـانی بـود. سـفر هیئت بلند رتبـه طالبـان و جریـان هـر دو نشسـت، بازتـاب داغ و گسـترده ای در رسـانه هـای خـبری و شبکه های اجتماعی داشت.

این مهـم تـرین هیئـت طالبـان در دوره هـژده ساله مقاومت کنونی بـود کـه در کنفرانسـی حضـور یافـت. در پهلـوی مـلا عبـدالغنی بـرادر کـه بـرای نخستین بار در محضر- عـام قـرار گرفـت و بـا چهـره های احزاب مختلف سیاسـی کشـور روبـرو نشسـت، مولـوی امیرخـان متقـی (رئـیس دفـتر مقـام رهـبری امـارت اسـلامی)، شـیر محمـد عبـاس سـتانکزیی (رئیس پیشین و معاون کنونی دفـتر سیاسـی)، مـلا محمد فاضل مظلوم (معاون تـیم مـذاکراتی طالبـان) مولـوی عبدالسـلام حنفـی (معـاون دفـتر سیاسـی)، قاری دین محمد حنیف و دیگر چهـره هـای شـاخص طالبان شامل این هیئت بلند پایه بودند.

در بیانیه مشترک نشست بین الافغانی آمده است که: «نشست در فضای صمیمانه، مبتنی بر روحیه همکاری صورت گرفت، طرفین در بخش های توافق و پیشرفت های خوبی دست یافتند»، اما سرخط بیشتر مطبوعات و رسانه ها این بود که نشست بدون کدام توافق مشخصی پایان یافت. بعضی ها بر طالبان نقد داشتند که عدم تنزل آن ها از موقف خود، سبب شد که اداره کابل بار دیگر نتواند در نشست بین الافغانی حضور یابد و نشست بی نتیجه بماند (حال اینست که هدف از اینگونه نشست ها، تفاهم بین جهت های مختلف کشور در قبال آینده کشور است، و شکی نیست که درین راستا پیشرفت زیادی صورت گرفته است).

همچنان موقف طالبان در مورد عدم مذاکره و گفتگو با مقامات رژیم دست نشانده کابل روشن، منطقی و واقع بینانه است. چنانکه شیر محمد عباس ستانکزیی در صحبت با ژورنالستان بار دیگر تصریح نمود که: «گفتگو با اداره ای که اختیارات ندارد و دچار اختلاف است را همیشه رد کرده ایم».

مشکل واقعی رسانه های استعماری این نیست که اداره کابل چرا در این نشست اجازهء حضور نداشت. زیرا برای همه روشن است، ادارهء که نه تنها مشروعیت قانونی ندارد بلکه با اوج انزجار مردمی و انتشار داخلی روبرو است، هرگز نمی تواند و نمی خواهد هیچگونه نقش مثبتی در راستای صلح ایفا بکند، بلکه همواره در پی ایجاد موانع در راستای صلح بوده است. توطئه در برابر نشست بین الافغانیِ قطر دلیل روشن این واقعیت است.

واقعیت اینست که دشمن از توانایی روز افزون سیاسی و نیز وحدت و یکپارچگی امارت اسلامی، سراسیمه شده، ناچار به تبلیغات بی سر و پا رو می آورند. زیرا این بار هیچ فرصتی برای دشمن باقی نماند تا بگویند در بین نمایندگان سیاسی و نظامیان طالبان فاصله وجود دارد، یا ملا عبدالغنی برادر چرا در راس تیم طالبان دیده نمی شود و یا هم مقام رهبری امارت اسلامی در جریان نیست. سفر هیئت چهارده نفری طالبان این همه پروپاگندهای دشمن را نقش بر آب ساخت.

رسانه ها کوشیدند روابط دیپلماتیک کنونی طالبان و روسیه را جامه دیگری بپوشانند و گویا کامیابی های سیاسی طالبان را مرهون احسان روسیه و بعضی کشورهای دیگر جلوه بدهند. اما بیانیه طالبان در نشست صدمین سالگرد روابط دیپلماتیک افغانستان و روسیه، و به ویژه تقبیح صریح تهاجم شوروی پیشین بر افغانستان، روشنگر این بود که طالبان خواهان چگونه روابط با روسیه و در مجموع با سائر کشور های همسایه و منطقه هستند.

طالبان همواره تصریح کرده اند و در عمل ثابت کرده اند که اراده ضرر رسانی به هیچ کشوری را ندارند. اما استعمار، زورگویی و تسلط هیچ کشوری را هم به هیچ صورت نمی پذیرند، به احترام متقابل باور دارند و از استقلال و آزادی

خود به هر قیمت دفاع می کنند. روابط خوب با کشورهای همسایه و منطقه بخش عمده سیاست خارجی طالبان است، اما پایان اشغال، قیام نظام اسلامی، تمامیت ارضی و حاکمیت ملی را هرگز قابل معامله نمی دانند.

طالبان افتخار دارند که با مساعی کامیاب سیاسی خود توانستند اجماع نامقدس جهانی امریکا برای اشغال افغانستان را متلاشی بسازند و ائتلافیان امریکا را قناعت بدهند که جنگ امریکا در افغانستان هرگز به فایده آن ها نیست، امریکا در پی تک قطبی ماندن جهان است و می خواهد خاک افغانستان را به عنوان پایگاه نظامی خود برای تهدید کشورهای منطقه بکار ببرد. این دستآورد انکار ناپذیر طالبان در عرصه سیاست و دیپلماسی است که امروز کشورهای منطقه به این باور رسیده اند که حضور نظامی امریکا در افغانستان به نفع هیچ کدام ما نیست.

رسانه‌های استعماری و مزدور روابط طالبان با کشورهای منطقه را به اشکال مختلف زیر سوال می برند، اما آگاهان می دانند که طالبان چه نقش عمده و مبتکرانه یی را در سیاست کنونی منطقه بازی می کنند. طالبان نه تنها امریکا را در افغانستان با شکست مواجه ساخته، بلکه در حقیقت استراتژی استعماری امریکا را در سطح منطقه خنثی ساخته اند.

رسانه های زرخرید سال ها تبلیغات می کردند که مشکل طالبان تنها با امریکا نیست، بلکه ایشان نمی توانند با هیچ کشوری راه بروند و برای خود جای پا پیدا بکنند. اما هرگاه کشورهای منطقه به این نتیجه رسیدند که باید به موقف معقول و منطقی طالبان در قبال امریکا گوش بدهند و بر سیاست خارجی خود که بر مبنای فشار و زورگویی امریکا تشکیل داده بودند تجدید نظر بکنند، این رسانه ها به درد شکم گرفتار شدند و این بار این تبلیغات بی سر و پا را به راه انداختند که گویا طالبان با فلان و فلان کشور معامله دارند.

واقعیت اینست که طالبان بخوبی درک می کنند که در اوضاع کنونی جهان، روابط سازنده با کشور های همسایه و منطقه چه نقشی در راستای ترقی و پیشرفت یک کشور ایفا می کند. با درک این حقیقت، بدون اینکه بر اهداف والای خود (که عبارت از پایان اشغال، اعاده نظام اسلامی، تمامیت ارضی و حاکمیت ملی است) معامله ای بکنند، خواهان برقراری روابط خوب با سائر کشور های همسایه و منطقه هستند، و اعتنای به تبلیغات پوچ دشمن ندارند که از یکسو طالبان را به نداشتن رابطه خوب با جامعه جهانی طعنه می دهند و از سوی دیگر از تلاش های دیپلماتیک طالبان برای ایجاد و استحکام روابط با همسایگان و کشور های منطقه در هراس هستند.

ارګ په فحشاووکې هم

خپله شمشمه ښکاره کړه!!

خلیل ـ عزیز

هسې خو هم د کابل د شرمیدلي رژیم له هر وزارت، اداري او ارګان څخه د فساد، ګندونو او زرګونو منکراتو ډډوزي راوتلي؛ خو اوس دا دی له ارګ څخه هم دفحشاو مستند خبرونه او حکایتونو سر ووا‌هه او هلته یې روان سیاست په نورو بې بندو باریو، ضمیر پروشیو او له دین او هیواد سره په غداریو سربیره دا حقیقت مخې ته راغی؛ چې د ښځینه ټاکنو او ګمارنو معیار د ارګ له واکمنو سره د فحشا او جنسي استفادې په مقابل کې ترسره کیږي.

د اشرف غني یوه راز دار مشاور (جنرال احمدزي) له خورشید تلویزون سره په مرکه کې د ارګ له ټولو دغو بې دینیو او ناولتیاوو له رازونو څخه پرده پورته کړې

نوموړی وایي:

ارګ چې د سیکولریزم په پخه ځاله تبدیل شوی، ددې لپاره چې غرب او امریکا ته په اثبات ورسوي چې کړه وړه، فکر او عقیده یې له اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې ده، نو یوه هڅه یې دا ده چې په رسمي او لوړه کچه فحشا، زنا او هرډول جنسي بدکاری ترویج او عامې کړي.

جنرال زیاتوي؛ چې په ارګ کې یواځي هغه ښځې او پیغلې دندو ته رسیدلي چې ښایست ولري او زیاتره یې د ارګ د لوړپوړو چارواکو د حیواني خواهشاتو پوره کولو ته امادګي لري.

دغه ډول پارلمان او نورو مهمو دولتي وظیفو ته چې ښځې معرفي کیږي، همدغه ټیټ او پست مواصفات به لري.

همدغه علت دی چې کله ارګ وغواړي نو له همدغو ښځو څخه د سیاست په میدان کې د فشار د یوې آلې په توګه کار اخلي؛ څه چې ارګ ورته وایي همغسې ګفتار او رفتار به په پارلمان او نورو ادارو کې سر ته رسوي. که یې ونکړي نو اسرار او رازونه به یې افشا کیږي!!

په همدې نږدې دوه اونیو کې درې همدغسې ښځې د دولت په مهو دندو وګمارلی شوې چې یوه یې د ملي دفاع وزارت معینه، بله د بهرنیو چارو معینه او بله د شهرسازی معینه ده.

کـــه د ســـپکولرېزم سره د هماهنګـــي لپـــاره همدغه ستره نښه نه وي او يا د جنرال احمدزي په خبره سياست د ارګ د جنسي غرايـزو د اشـباع او ډکولو پـه خـدمت کـې نـه وي؛ نـو د وزارت دفـاع معينت له يوې تنکـي پيغلـې سره چـې هـيڅ ډول مسلکي پوهه او نسبت هم نلري کوم تـړاو او ربـط لري؟

څه موده وړاندې د کابل رژيم د بهرنيـو چـارو وزارت يوې مهمـې سرچينـې لـه کابـل ښـار څخـه خپريـدونکې انټرنيټـي پـاڼې (اطـلاع رسـاني) تـه ويلي؛ چې د يـوه مـنظم پـلان او زمينـه سـازي لـه مخې يواځې د کابل په ښار کې دوه نـيم سـوه هغـه فاحش خانې وجود لري چې له ورايه يې په مراکـزو د ګيسټ هاوسونو نومان ايښي، خو په عمل کـې د جنسي بې لاريو او فحشاؤ په خدمت کې دي.

د نوموړي سرچينې پـه خـبره ډيـره دردونکـې خبره داده؛ چې دغه دوه نيم سوه فاحش خانې ټولې د بهرنيانو په مخ خلاصې دي او يا هم هغه افغانـان ورځي چې مليونران وي او د يـوه سـاعت پـه بـدل کې له ۵۰۰ سوو څخه له ۱۵۰۰ سـوه ډالـرو پـورې د ورکړې توان لري.

له بل اړخه د کابل رژيم د سترې محکمې يـوه قاضي د نوم نه ښـودلو پـه شرط خورشـيد تلـويزون ته ويـلي؛ چـې زرګونـه دغسـې پيښـې او دوسـيې سترې محکمې ته ورغلي چې پـه ښـځو د تجـاوزاتو او جبري جنسي خورونو پيښې تائيدوي او هـم پـه کابل ښـار کـې دبـې شـمېره فـاحش خـانو د شـتون مستند راپورونـه پـه لاس ورکـړل شـوي دي؛ خـو د سياسي ملحوظاتو او د زورواکو د بدماشۍ لـه املـه په دغه يوه دوسيه هم څـوک د اجراتـو او پوښـتنې حق نلري.

په پښتو کې يو متل چې وايـي (اوبـه لـه بـره خړې دي) چـې پـه ارګ کـې اوس سياسـت د زنـا، فحشـا او جنـسي استحصـال تـابع ګرځيـدلی او د هېواد ترټولو د معتبر مقام څخه چې مفکـر او بې بې ګله هم پکې ناست دي د زنـا او فحشـاوو لـه مخـه پردې ليرې کيږي او د يوه منظم پلان له مخـې پـه رسمي ډول نورو ادارو او ښارونو تـه انتقـاليږي، نـو ګيله به له چا وکړي، او چاته به څوک ووايـي چـې په کابل او نورو ښارونو کې دغه بې دينـي، فحشـاء او بې حيايي ولې په اوج روانه ده ؟

ارمان

د اسلامي امارت

د بریاوو تسلسل

د۲۰۱۹زکال دمی په ۲۸مه نیټه دروسیې په پلازمینه مسکوکې د افغانستان اوروسیې د دیپلوماتیکو اړیکو سل کلو پوره کیدو په مناسبت د روسیې حکومت لخوا یوه ځانګړې غونډه جوړه شوې وه چې پکې دروسیې دحکومت په بلنه دافغانستان داسلامي امارت یولوړرتبه هیئت داسلامي امارت دسیاسي چارودمرستیال ملا عبد الغني برادر په مشرۍ مسکوته سفروکړ او په یاده غونډه کې یې ګډون وکړ.

همداراز کابل نه دحامدکرزي په مشرۍ یوشمیر سیاسي شخصیتونه اودتنظیمونو مشران هم وربلل شوي وو، دمی په ۲۹مه نیټه دروسیې دحکومت په کوربتوب ددواړو افغاني هیئتونوترمنځ دبین الافغاني تفاهم په موخه دوهمه غونډه جوړه شوه ، په هغه کې دواړو لوریو کډون وکړ او دافغانستان دروانې معضلې دحل په اړه یې دیوبل نظرونه واریدل او بیا په پای کې یې یوه یوه ګډه اعلامیه نشرکړه.

ددیپلوماتیکو اړیکوپه اړه غونډې ته دافغانستان داسلامي امارت سیاسي مرستیال ملا عبد الغني برادارپخپله لنډه بامعنی ویناکې دروسیې له حکومت نه په مننه کولو وویل اسلامي امارت سولې ته ټرې دی او دزړه نه سوله غواړي، خو دسولې په وړاندې قوي خنډ دافغانستان اوسنی اشغال دی باید دافغانستان اشغال په سملاسي توګه پایته ورسول شي څو هیواد کې رښتینې سوله راشي، دهغه دخبرو وروسته دافغانستان اسلامي امارت دمشرتابه د دفتر مشر اودامریکا سره دمذاکراتي ټیم غړي مولوي امیرخان متقي دافغانستان اوروسیې دتاریخي اړیکو

په اړه داسلامي امارت دهيئت لخوا ليکلې بيانيه ولوسته په کومه کې چې دروسيې او افغانستان ددپخوانيواړيکودلندې دپيلابېلو پراوونو دجاجونې ترڅنګ دروسيې لخوا په افغانستان دناروا يرغل په نتيجه کې افغانستان اوروسيې ته وراوښتوزيانونو ته په اشاره راغلي چې روسيه اونور هيوادونه دي افغانستان سره په اړيکو کې ددغه ډول اړيکو او مداخلونه په عبرت اخستلو ديو ګاونډي په حيث تعميري اړيکوته ته اولويت ورکړې اوپه افغانستان کې دمغرضانه مداخلونه دي لري اووسي په بيانيه کې دروسيې دهغو تعميري او انکشافي کارونو څخه هم سرسري يادونه شوي وه چې په تيرو سلوکې هغې افغانستان کې دانکشاف او پرمختګ په برخه کې ترسره کړي

همدا رازمحترم متقي صيب د يادې غونډې وروسته په يوخبري کانفرانس کې راڅرګند شوويې ويل: دکابل اداره په رسميت نه پيژنو، زکه هغه دخارجيانو لخوا په افغانانو تحميل شوې او تپل شوې اداره ده.

دلته چې کوم افغانان راغلي کيدای شي هغوی سره دافغانانو په حيث او دافغانستان شخصيتونو په حيث ورسره خبرې ولرو

نومورې وويل پردې عالاوه د دوه خبروپه اړه يوڅه وضاحت ضروري دی يوداچې اسلامي امارت دواک په اړه دانحصارنيت او اراده نلري افغانستان دټولو افغانانودی او ټول پکې حق لري او دکابل موجوده اداره افغان شموله اداره نده که تاسو وګورئ له بدخشانه ترهراته او دفاريا ب نه ترننګرهاره پکې يو جهادي ، علمي ، روحاني اومخور قومي شخصيت په نظر نه راځي چې هغه دي پکې ګډون ولري.

دوهم په افغانستان کې د ۱۸کاله لاسته راوړنوخبره کېږي حال داچې په تيرو ۱۸کلوکې افغانستان کې هيڅ کوم داسې دپام وړپرمختګ ندی راغلی چې هغه دی دافغانانو دمرض دوا شي په تيرو ۱۸کلوکې لکونه افغانان ووژل شول ، مهاجر شول او بنديان شول حتی اوس په زندانوکې بنديان ځايولی نشي۔ نو اوسنی اداره دافغانانونماينده اداره نده مورږغواړو چې افغانستان کې دټولو دخوښي اسلامي نظام راشي، هغه چاچې قربانی ورکړې دهغوی ارمانونه پوره شي تاسو ګورئ د۱۸کلو لاسته راوړنه داده چې ۷ميا شتې دپارلماني انتخاباتو شوې تراوسه يې سرنوشت ندی معلوم!! که دتيرو ۱۸کلو لاسته راوړنه داوې چې په تير يوکال کې پنځه نيم زره ميرمنو دخپلو خاوندانوڅخه طلاق اخيستي، چې په دې سره پنځه نيم زره کورونه رنګ شوي پنځه نيم زره رشتې پريک شوې نورښتيا افغانستان کې په تيرو ۱۸کلونه لاسته راوړنې لري !خو دافغان ولس لپاره دا د ميرمنوحقوق نه بلکي دهغوی په حقوقوتيردی

دنړۍ په هيڅ هيوادکې داسې نده پيښه چې دخلکوپه کورونو دي چاپې غورځوي، کورونه دي رنګوي او بيا د ماشومانو اوميرمنو په سرونو توپانچې اوتوپک نيسي۔ اوهغوی دي په سرسر ولي!! دانه دبشريت حقوق دي، نه نړيوال قوانين دي او نه اسلامي ... مورږ په تولو افغانانو غږکوو چې ددې

وحشت په مقابل کې پورته شي او افغانستان دټولو افغانانو ګډ کوردی په اینده نظام کې باید هرڅوک خپل ځان وویني،پکې اینجینرحیثیت ولري، ډاګټرپکې حیثیت لري، دیني عالم او مجاهد پکې حیثیت ولري روحاني او ملي شخصیتونه پکې حیثیت ولري

نومورې وویل: افغانستان هیڅوک په زوره نشي نیولی،دافغانستان تاریخ دادی چې نه یې دچا زورمنلی اونه یې چاته سرټیټ کړی اوسنی جهاداومبارزه به ترهغه روانه وې څو خارجي ځواکونه له افغانستان ځخه وتلي نه وې اوپه افغانستان کې دافغانانو دخوښې اسلامي نظام نه وي راغلی

مسکوته داسلامي امارت دهیئت دسفر په اړه یې وویل:غواړودافغانانو دمظلومیت غږنړیوالوته ورسوواوهم دسیمې او نړۍ ملاتړ ترلاسه کړو،څو نړیوال دیته متوجه کړو چې دافغانانوپه حقوقو باندې تیری شوی دی له افغانانواستقلال اوزادې اخستل شوې څو هغوی له موږ سره په دې لارکې مرستې وکړې او اینده افغانستان به دخارجیانوڅخه پاک اوخلاص افغانستان وي او دټولو افغانانوپه ګټه به وي اوهم به دنړۍ او سیمې په ګټه وې تاسو وګورئ داسلامي امارت دواک په مهال دنشه توکیوکښت صفرته ټیټ شوي وو خونن اتلس کاله وروسته افغانستان دنړۍ په کچه ترټولو زیات تاریاک تولیدوي اوبهرته یې قاچاق کوي چې پکې دکابل اداري لوړپوړي چارواکي لاس لري

دښځو حقوق دادي چې افغانستان کې دي دښځودمیړونو، دهغوی دوالادونو اوخپلوانو وژل بندشي دهغوی په کورونودي شپینې عملیات اوچاپې بندې شي دهغوییپه کورونو دي بمونه غورځول بندشي ... مختصرداچې دښاغلي متقي صیب وینا دخورا بصیرت اوفراست نه ډکه ویناوه، نومورې په ډیره ښه اولنډه توګه نړیوالو او افغانانوته دافغانستان داسلامي امارت اینده پالیسې روښانه کړه او داسلامي امارت دخارجي او داخلې کړنلارې په اړه یې ورته معلومات او توضیحات ورکړل.

د متقي صاحب داویل: چې اسلامي امارت دواک دانحصار اراده نلري د راتلونکي افغانستان په واک کې به دهیواد ټول قشرونه او مسلکي کدرونه ځانونه وویني او دهیواد دښیرازۍ او ترقۍ په برخه کې به دهغوی دمهارتونو څخه ګټه پورته شي، دمیرمنو دحقوقو په اړه یې داویل: چې د افغاني میرمنو ترټولو مهم حق دادی چې دهغوی په کورونودي بمونه غورځول بند شي، دهغوی داولادونو وژل دي بند شي، معنویت له پلوه خورا مهم اوضروري وو چې نړیوال اوافغانان تري خبر شوي وای اوپه دې سره هغه افغانان هم ډاډمن شول چې اندیښمن و چې طالبان که بیا په واک کې راشي ټول واک به پخپل لا س کې ونیسي- نور به تري محروم کړي، دمحترم متقي سپیناوي جوته کړه چې اسلامي دواک په اړه دانحصار دریځ نلري اوغواړي او داد افغانانوحق بولي

همدارازداویل یې چې افغانستان کې په تیرو اتلس کلو کې هیڅ پرمختګ او ترقۍ نده راغلې واقعیت دی افغانستان کې هیڅ داسې دپام وړپرمختګ نه ترسترګوکېږي چې سړی پري حساب

وکـــړي، نـــه دعـــامو افغانـــانو ژونـدکې کـوم دخوښـی بـدلون راغلی چې دامریکا د لاسـپوځي واکمـن پـري وویـاړي بلکـې دخلکو په ستونزو او ناخوالوکې زیـــاتوالی راغلـــی هـــره ورځ دخلکوپه کورونو داړې او چاپې روانې دي، هره ورځ پـه ولـسي خلکوبمباردونـه کـړي دکابـل اداره یـې دغنـدلو جرئـت نشي کولی نو داخبره پرځای ده چې پـه تیرو اتلس کلوکې دافغانانو ناخوالې زیـاتې شـوي دي پـه افغانـانو بانـدې ترپخواظلمونـه اووحشتونه ډیرشوي دي پـه دې دلیـل اوسـنی اداره دافغانـانو نماینـده اداره نـده او نـه دافغانـانو دحقوقـو ساتونکې اداره ده.

دافغانستان اوروسیې ددیپلوماتیکواړیکو دسـل کالوپوره کیدو په اړه دغونډې وروسته دوهمه غونـډه دبین الافغاني تفاهم پـه لړکـې دافغـان شخصـیتونو او داسلامي امارت داستازو ترمنځ جوړه شـوه چـې پکـې دافغانستانه دبهرنیو ځواکونو په وتلو، داسـلامي نظـام په نفاذ اودافغانستان دملي او ديني ارزښتون په دفاع کولو دغونډې دګډونوالود نظرونـو موافقـت داسـلامي امارت لپاره سیاسي بریاده اودحامد کرزي پـه مشرۍ دلاړ هیئت لخواهم دخارجي ځواکونو شتون دسولې په وړاندې دعمده خنډ په توګه تسلیمول داسلامي امارت د دریځ منل دي.

ښکاري چې چې دوخت پـه تیریـدو سره نړیـوال او افغانان دې حقیقت ته رسي چې افغانسـتان اشـغال ته پایښت ورکول دنړۍ دثبات لپاره زیان دی او داکار دنړۍ مستقبل دخطر سره مواجه کوي ددې لپاره هغوی هم دخارجي اشغال دپای ته رسولو غوښـتونکي دي او غواړي چې امریکـا بایـد لـه افغانسـتانه خپـل عسـکر وباسي او افغانستان دي پخپلـه افغانـان رهـبري کـړي اوهـم دســیاسي اوپــوځي واک یــې بایــد پخپلــه دافغانانولاسوواخلي نه داچې دامریکـا یـانو اونوروپـه لاس کې پاته وي رازو دیته چې امریکـا دپـوځي ډګـر په څیر په سیاسي ډګرکې هم دمـاتې سره مـخ ده او پـه راتلونکي کې تمه ده چې داسلامي امارت دسیاسي او پوځي بریاوو لړۍ به نوره هم وغځیږي اوپه پـای کـې به امریکا دیته اړباسي چې له افغانستانه دخپلـو ټولـو عسکرو دویستلو پریکړه په نه زړه او مني.

د يوې تليفوني پوښتنې د ځواب په پلمه...!!

ويس افغان

قدرمنه، السلام عليكم... هيله ده ښه به ياست!

دا کوم پيغام چې تاسو د کوم ورور لخوا ماته را فارورډ کړی و، هغه می ولوست، ښه خوند يې راکړ، بيا مې د خپل هغه تأثر په رڼا کې چې ما تري واخيست؛ دا يو څو کرښې وليکلې، که څه هم خبره لږ رانه اوږده سوه، هيله ده چې د خستګۍ باعث نشي.

- - - - راځم اصل خبرې ته:

د دغه ورور دا خبره ډېره سمه ده، چې وايي: « مونږ او تاسو بايد د طالبانو منفي ټکي هم په ګوته کړو ترڅو يو ريښتوني قوت او صفت خپل کړي. » دا يو پرځای نظر او ريښتينی واقعيت دی ځکه چې دا زمونږ او ستاسو د دين يو اصل هم دی، چې يو مسلمان به بل مسلمان ته د هغه د نيکمرغۍ په خاطر د خير نصيحت کوي، په دې سره د انساني ټولنې تکميل راځي.

خو شرط دا دی چې دا انتقاد به پرځای او د ښه نيت له مخې وي، نه دا چې د ناسم غرض په خاطر يو پر بل منتقد شو، ځکه چې په هغه صورت کې بيا اصلاح نه، بلکې لا نقصان رامنځ ته کيږي.

- - - پاتې شوه دا خبره چې دا ورور وای طالبان د افغان سولې په برخه کې افغان ولس هيڅ نه ګني، يوازې د جګړې لپاره کار ترې اخلي.

- - زه فکر کوم چې دا نو يو ډېر اوږد بحث دی، خو مختصراً دومره ويلای شم، چې طالب خو دا دی علی الاعلان خلکو ته وايي چې من حيث الأفغان له هر وګړي سره؛ که څه هم د ده د سر قاتل وي؛ خبرو ته تيار يم، د مسکو او دوحې بين الأفغاني غونډې يې ښه مثالونه دي. دا خو پټه خبره نه ده. تر دې زيات طالب څه وکړي، له افغان ولس سره خو دا دی هر ډول جرګو او مرکو ته تيار دی.

مګر که څوک افغان ولس يوازې د کابل رژيم بولي، هغوی نو خطا دي، هغوی دې بيا پرخپل نظر تجديد نظر وکړي. ځکه د کابل شړيدلی رژيم، قطع نظر له دې چې د جانکيري پيدا وار دی؛ اوس عملاً له ولس سره لاس او ګريوان دی، ولس وژنه يې ورځنۍ مشغله ده، د رژيم ټول وګړي پخپل کور کې هم د پُسه او ليوه غوندي ژوند لري. هرڅوک يې د سر په سترګو وينې. هيڅوک يې پر نا اهليت شک نلري. نور خو ايسته پريږده؛ خپله د حکومت په اپوزيسيون کې راټول سياسيون، حقوق دانان، اهل نظر ټول يې په مخالفت، غندلو او ړنګولو کې ولاړ دي.

نو نه بايد، د کابل فاسد رژيم د ولس استاځی وګڼل شي او نه بايد د شل کلني مبارزې ګټونکی طالب په دې ملامت کړل شي چې ولې د سولې ترنامه لاندې دغه

شړيدلي رژيم ته ورتسليميږي نه؟ دا لويه نا انصافي، او غيرمعقوله غوښتنه ده.

- - - بله خبره چې دا ورور د پاکستان او طالبانو د روابطو په اړه کړي، په دې اړه به زه دومره درته ووايم چې طالبان نه يوازي له پاکستان، بلکي له خپل هغه دښمن امريکا سره هم روابط غواړي، او دا روابط د شخصي نه، بلکي د ملي او اسلامي مصلحت په خاطر غواړي، البته روابط يې هيڅکله د بادار او غلام په شان نه دي اوسيدلي. الحمدلله.

دا يو واقعيت دی، گوره د طالبانو د حکومت په وخت کې او يا تر هغه وروسته او مخکې د طالبانو د پاليسۍ په وجه هيڅکله عام افغانان خصوصاً پښتانه په عامه ژوند کې د پاکستان له لاسه دومره نه دي ځوروړل شوي لکه د کابل د دغه فاسد رژيم د منافقانه او شيطاني حرکاتو له وجې چې پاکستانيانو د افغانانو په ځانگړې توگه د پښتنو ورځنی ژوند متاثره کړی، اغزن تار، پولي ترل، ويزه جبري کول، تجارت او کاروبار بندول يې ښه مثالونه دي.

د طالب په واکمني کې، نه د پاکستان له وجې د افغان وگړي ژوند متاثره، شوی، نه يې پوله وترلای شوه، نه يې اغزن تار وغځاوه، او نه يې يوه لويشت د را مخکې کيدلو جرأت وکړ. حالانکه طالب خو ستاسو په خبره د پاکستان سره ښه روابط لري، هره خبره يې مني. بايد چې دا کارونه يې په هغه وخت کې کړي وای. خو پاکستان دا جرأت ونشو کړای. ځکه چې طالب خپلواک و او دی.

مگر د کابل رژيم چې ځان د پاکستان دښمن گڼي، په پټه يې د څو پيسو او قدرت د بقا په خاطر هر ډول معاملې له پاکستان سره لاسليک کړي، د افغان وگړو خصوصاً پښتنو ژوند يې بې حده متاثره کړ، پوله يې ورسره رسمي کړه، او داسي نور.... له تفصيلاتو يې ته هم ښه خبر يې...

له دغو ټولو حقايقو نه چې څوک سترگي پټوي، او ورځنی سرچوک خبري د طالب په خلاف گزوي. دا نو پوره نا انصافي ده.

- - - درپيمه خبره چې دا ورور وايی، طالبان ولس ته ښکاره کوي چې په سياسي ژبه نه پوهيږي، د زور له لاري کار اخلي.

نه خير، دا دې ډېره ناسمه رايه ده، طالب افغان ولس او نړۍ ته وښودله چې هم د زور هنر ورسره دی چې د نړۍ سُپر پاور ورته په گونډو سو او په هفتو هفتو پر ميز ورته ناست وي زارۍ ورته کوي.

او هم په سياسي ژبه پوهيږي چې په جگه غاړه يې د ماسکو کنفرانس پرمهال له يې شمېره افغانانو سره په ناسته کې خپله داعيه او برنامه واضحه کړه او د کابل د رژيم ټولې سياسي کتلې ورته بلې بلې کول.

او د رژيم هغه شرمندگي هم ټولو وليدله چې وراگاني يې تيارولې او بيا هم وربانديې جوړ نشول. اوس به ما وتا خپله انصاف وکړو، په سياسي ژبه څوک پوهيږي؟، طالب او که هغه رژيم چې موږ او تاسو يې غيرمستقيم ننگه کوو.

- - - څلورمه خبره چې دا ورور کړي، وايی، طالبان د نورو اسلامي او غير اسلامي ملکونو په مرسته

کوشش کوي چې په افغانستان کې خپلې جګړې ته مشروعیت ورکړي. او د کابل رژیم بیا د نورو په ملاتړ کافر بولي.

دا خبره به یوځل، له سیاسي نه، بلکي له دې اړخه را وسپرو چې دا زمونږ او ستاسو مسلمانانو د دین او عقیدې مسئله ده، دې ته د سیاسي او مادي مفاداتو په رڼا کې کتل له ایمان او عقیدې سره په ټکر کې راځي.

قرآن او حدیث د جهاد په اړه واضح او ډېر صریح حکم کړی، چې که څوک کافر او یا غیر کافر د مسلمانانو پر حریم، وطن، کور، کلي، مال او ناموس په زور او جبر تجاوز وکړي، د هغه په مقابل کې پر مسلمان باندي دریدل فرض عین ګرځي، په سر او مال به یې دفاع کوي. ښه مثال یې همدغه پر افغانستان د ناټو یرغل، تر هغه مخکې د روسانو تجاوز او تر هغه وړاندې د انګریزانو تیری دی.

د قرآن ټول تفاسیر او د احادیثو ټول شروحات، دفقهې ټولې فتاواوې پر همدې خبره متفق دي، پر دې ټکي باندي عقیده لرل په هرصورت پرمسلمان لازم دی، بیا چې عملاً یې څوک مقابله کوي او یا یې نه کوي، دا بیا د هغه تر غیرت، ایمان، ضرورت، شرایط او نورو... پوري اړه لري. اما عقیده به یې ضرور ساتي. کنه نو ایمان ته هرو مرو زیان رسوي.

دا خبره مې تر دې وکړه چې دا ورور وایی، طالبان کوشش کوي چې خپلې جګړې ته مشروعیت ورکړي، مطلب دا چې دا ورور اوس هم دغه جهاد ته د ایساف د مفتي سیاف له عینکو ګوري، تراوسه لا هم شک کوي چې جهاد نه دی.

خیر دی له طالب سره سیاسي اختلاف پرخپل ځای مګر دلته د متجاوز کافر په مقابل کې قیام زمونږ او ستاسو ایماني مسئله ده، نه یوازي سیاسي.

بل دا چې دغه ورور د امریکایانو تجاوز او بیا دلته د ځمکې او فضا واک په خپل لاس کې اخیستل، له افغانانو څخه زندانونه ډکول، شپه او ورځ بمبارونه او وحشتونه کول، د افغانانو پر کورونو چاپې وهل، بې اجازې یې په حریم ورننوتل، لنډه دا چې دا اتلس کاله په پراخه کچه، او په آزاد لاس بشري جنایات ترسره کول، فقط څو غلامان د ولس له خوښې پرته پر ولس ورتپل، دا هرڅه له نظره غورځوي، او فکر کوي چې دا هم یو نوع مرسته ده چې د ده په وینا افغان حکومت یې له امریکا او ناټوڅخه ترلاسه کوي.

او د طالبانو روابط له دنیا سره چې ایله اوس د نړۍ د ځینو هیوادونو څخه یو و نیم استاځی راځي او له طالبانو سره د خپل آینده په اړه تبادله نظر کوي، د دې دوو ترمنځ دا ورور هیڅ تفکیک نه کوي، وای دواړه لوري له دنیا نه د خپلې جګړې لپاره مرسته غواړي. حالانکه دا خو د لمر او شپې غوندي څرګند حقیقت دی چې د طالب روابط له دنیا سره او د امریکا او ناټو مرسته له کابل رژیم سره، د دې دوو ترمنځ د ځمکې او اسمانونو هومره توپیر دی. دا دواړه یو شان بلل؛ نه کوم انصاف دی، او نه یو معقول قیاس او نه د منطق تقاضا ده. نه باید چې د خپل نصیحت خلاف د راننده قضاوت عاملان و اوسو.

پای.....!

د مسکو د غونډو جریان

د امریکا د بدماشۍ په وړاندې د فشار ښه وسیله

قاري سعید خوستی

په دې لیکنه کې په دوو خبرو تم کیږو، لومړی د مسکو غونډو اهمیت ته نغوته کوو، دویم د مسکو د غونډو یا په عموم کې د دا ډول بین المللي کانفرانسونو د چاپیریال په اړه ځینې راولاړ شوي سوالونه ځوابوو.

- د مسکو د غونډو اهمیت

د ولادمیر پوټین په تیرو دورو کې روسیه ورو ورو له اقتصادي ستونزو راووته او دا دی بیرته د امریکا په وړاندې عرض اندام کوي او نړۍ د دوه قطبي کیدو لور ته روانه ده.

امریکایان په افغانستان کې له جګړې هغومره ستړي نه دی څومره یې چې په اړه زمونږ باور دی ځکه اوس امریکایان په افغانستان کې دویم لاس جګړه کوي او کرایه شوي قاتلان دوي ته په دوه سوه درې سوه ډالر جنګیږي چې دا په افغانستان کې د یوه عادي امریکایي پوځي د معاش پنځوسمه برخه هم نه کیږي ځکه په افغانستان کې د یوه عادي امریکایي سرتیري معاش له لس زرو ډالرو پورته دی.

خو هغه څه چې امریکایي سیاستوال یې وارخطا کړي او په دې وروستیو کې یې خپلې ټولې سرې کرښې ماتې کړې او د اسلامي امارت سره یې مخامخ خبرو ته ګونډې وهلي، د اسلامي امارت د سیاسي کمیسیون د مشرانو هلې ځلې دی چې روسان او د امریکا نور حریفان یې په دې قانع کړل چې د افغانستان طالباني راتلونکی د هیڅ ګاونډي په ضرر نه دی.

اوس امریکا له دې حالت ویره لري چې هسې نه امریکایان هم د روسانو په برخلیک اخته شي او له افغانستان څخه په رسوایۍ وشړل شي نو ځکه یې سیاسي دفتر ته د یوه جوړجاړي لپاره مراجعه وکړه.

مونږ باید په یاد ولرو چې امریکایان د نړۍ ترټولو شیطان صفته، غدار، دوکه باز، دوه مخې، له خپلو ژمنو او تعهدونو تښتیدونکی خلک دی. دوی په مذاکراتو کې صادق نه دی او نه غواړي چې د افغانستان اشغال پای ته ورسوي خو حالات او د اسلامي امارت کامیابه دیپلوماسي به دوی اړ کوي چې اشغال پای ته ورسوي. ان شاءالله

امریکایان یو لور ته مذاکرات کوي او خلیلزاد د اسلامي امارت مذاکراتی ټیم ته په ټینګار وایي چې دوي غواړي له افغانستان څخه ووځي بل لور ته په هیواد کې شپني عملیات، بمباری، د ملکي افغانانو وژل له بل هروخت زیات شوي.

د امریکایي چارواکو متضادې څرګندونې هم د امریکایانو په اراده شک څرګندوي، څو ورځې وړاندې د امریکا مرستیال ولسمشر مایک پینس خپلو فارغ شویو سرتیرو ته په خبرو کې وویل: دوی باید په افغانستان کې یوې اوږدې جګړې ته ځانونه چمتو کړي د هغه په وینا چې امریکایان اړ دي په افغانستان کې تروریزم ته ماتې ورکړي.

د نوموړي دا څرګندونې داسې مهال مخې ته راځي چې امریکایي پلاوی له طالبانو سره په خبرو بوخت دی او د خبرو اجنډا هم د امریکایي سرتیرو بشپړ وتل او له افغانستان څخه نړۍ ته خطر نه پیښول دي چې په داسې حساس زماني مقطع کې د لوړپوړي امریکایي مقام دا ډول څرګندونې کړه د مذاکراتو په میز د فشار وسیله وبولو خو په عین حال کې د مذاکراتو سره د امریکا بې باکي هم په ګوته کوي.

د مسکو د غونډو بهیر بیا په امریکایانو د فشار د یوې بهترینې وسیلې په توګه کاریدای شي.

خلیلزاد د خپل ماموریت په دوران کې روسیې ته درې ځله سفر وکړو او د سفر موخه یې دا وه چې روسان د طالبانو له سیاسي ملاتړه راوګرځوي او روسان قانع کړي چې امریکایان پریږدي چې طالبان مجبور کړي چې د مذاکراتو په میز خپلې غوښتنې په دوي ومني خو داسې بریښي چې روسان یې قانع نه کړاي شول او د مسکو د وروستۍ غونډې څخه ښکاري چې روسان غواړي طالبانو ته د فشار یوه آله په لاس ورکړي.

د مسکو د غونډې پرمهال د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګی لاوروف په واضح ډول له امریکایانو وغوښتل چې باید په بشپړ ډول له افغانستان څخه ووځي چې دا په خپل ذات کې د امریکایانو او د کابل اداري ته ښه خبرداری نه ؤ.

نو که موږ غواړو چې د امریکا د زورګویۍ په وړاندې د فشار یوه آله په لاس کې ولرو باید دا ډول غونډې وخت په وخت جریان ومومي.

ـــ د مسکو غونډې او یا ورته بین المللي کانفرانسونو په اړه ځینې شبهات

په افغانستان کې د روسانو له ماتې وروسته نړۍ یو قطبي شوه او امریکا وه چې د نړیوال سټیج د اناونسری مطلق العنانه دعوا یې وکړه. روسان په افغانستان کې د امریکایانو او اروپایانو په مستقیمه مرسته مات شول چې روسان په دې هرڅه پوهیدل. د سپټمبر د یولسم د پیښې په پلمه په افغانستان د امریکایانو او اروپایانو لښکر کشي او د افغانستان شمالي پولو ته د جرمني او فرانسوي پوځیانو رسیدل بیا هم روسانو ته بل د خطر زنګ ؤ، له هغې بیا وروسته د یوکراین د روس پلوي حکومت رانړول او په ځای یې یو لویدیځ پلوه حکومت جوړول د روسانو لپاره یو بل سرخوړی ؤ، ورپسې په لیبیا کې د قذافي نظام چپه کول بیا د بشار الاسد لپاره د راپرځولو امریکایي پلانونه، دا ټول د دې سبب شول چې روسان ورو ورو راویښ شي او د امریکا په مقابل کې ودریږي چې دا دی نن نړۍ بیا د دوه قطبي کیدو په لور روانه ده لکه د روسي امپراتورۍ د غځیدا پرمهال چې دوه قطبي وه.

زمونږ لپاره یې هغه مهال ګټه دا وه چې روسان د نړۍ یو پرمختللی پوځي او سیاسي قوت ؤ چې ماتول یې په یواځې سر د افغانانو لپاره ستونزمن وو، افغانانو د روسي اشغال د ماتولو لپاره لویدیځ ته لاس اوږد کړ چې د اسلامي امت ټولو علماؤ دا کار روا وبلل.

د کافر څخه د بل کافر په وړاندې استعانت احنافو فقهاؤ په آند روا دی چې د دې موضوع دینې اړخ ډیر واضح دی او د احنافو د جواز د دې اصل په بنا په لنډ تیر کې د عثماني خلافت واکمنانو د روسانو سره په ټولو جنګونو کې د جرمنانو مرسته او حمایت ترلاسه کولو همدا راز د هند د علماؤ د خلافت تحریک چې د انګریزانو په وړاندې یې جهاد کاوه، له روسانو یې مرسته اخیستل روا بلل او مولانا عبیدالله سندهي د تحریک مشرانو د روسیې د حمایت د ترلاسه کولو لپاره د روسیې سنټ پیټرزبورګ ته لیږلی ؤ، د وزیرستان ایپي فقیر هم د انګریزانو په وړاندې په جهاد کې د هټلر ملاتړ له ځان سره درلود او د هټلر له لورې مرسته ورته رسیده.

د غونډو د چاپیریال په اړه ځینې شکونه

معمولاً په لویدیځه یا ختیځه نړۍ کې ښځې د ورځیني ژوند یوه برخه ګرځیدلې او دغو ملتونو ښځو ته له پولې وتلي ازادي ورکړې چې د دا ډول غونډو پرمهال هغوي د خبرې پوښښ لپاره د غونډې تالار ته حاضریږي او هلته له ګډون والو سره مرکې کوي.

اسلام له ښځې سره د خلوت څخه منعه کړې یعنې له پردې ښځې سره په جلا خونه کې یواځې کیدل روا نه دی خو که په دې خونه کې بل څوک هم وي بیا خلوت محرمه له منځه ځي او ناستی ورسره روا دی.

پاتې شو پردیو محارمو ته کتل هغه هم په داسې یوه لباس کې چې نیمه بربنډ یې بللی شو، روا نه دی خو دلته دوه نکتې د پام وړ دي.

لومړی: د اسلامي امارت مشران د ښځو سره د مرکو پرمهال هڅه کوي چې خپل نظر بلې خواته واړوي

چې د مسکو د تیرې غونډې پرمهال د طالب مشرانو په همدې عمل نیویارک ټایمز راپور جوړ کړی ؤ چې طالب مشران د ښځو سره د مرکو پرمهال د هغوي خواته نه ګوري او دا یې د طالب مشرانو په اخلاقي عفت او سپیځلتیا دلیل نیولی ؤ.

دویم: په هرصورت د ښځو دا ډول ګډون او په داسې مجالسو کې شرکت په عامو حالتونو کې روا نه شي بلل کیداي خو که سړی اسلامي احکامو او نبوي سیرت ته زیر شي ډیر وخت د لوړو مصالحو د ترلاسه کولو لپاره د وړو ګناهونو ارتکاب کولای شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د قریشو مشرانو ته له بیت المال څخه سل سل اوښان زرګونه اشرفۍ ورکولې په داسې حال کې د انصارو او مهاجرینو په منځ کې داسې صحابه کرامو شتون درلود چې له لوړې به یې په نسونو پورې کاڼي تړلي وو.

ایا دا کار معاذالله ناانصافي نه وه؟ چې یو مخلص مؤمن صحابي دې له لوړې په نس پورې کاڼي تړلي وي خو د قریشو مشرانو ته دې سلګونه اوښان او اشرفۍ ورکول کیږي؟

دا ځکه چې په هغې کې د اسلام یو لوړ مصلحت پروت ؤ چې د هغې مشرانو په وسیله بسته قبیلې او قومونه اسلام ته رامات شول او د اسلام دین قوي شو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د خندق د غزا پرمهال د غطفان قبیلې مشرانو عیینه بن حصن او حارث بن عوف ته خبر ورولیږلو چې تاسې دا خپله قبیله له جګړې څخه وباسئ. هغوي په بدل کې د مدینې منورې د هماغه کال د کجورو د ټول حاصل غوښتنه درلوده چې وروستی سلا په نیمایي وشوه خو دا چې د انصارو مشران په دې کار رضا نه وو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ټرون بیرته لغوه کړ خو په خپل ذات کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې کار د کولو اراده کړې وه چې ظاهراً کافر ته جزیه ورکول وو خو چون د مسلمانو مصلحت په دې کې وو چې له بیخ کنې او بشپړ نابودۍ وژغورل شي او کفار په مدینه منوره بریالي نه شي بناءا دوي ته له جنګ څخه د واپسۍ په بدل کې عوض ومنل شو.

په دا ډول نړیوالو غونډو کې شرکت او د هغې ګټه له دې درک کولای شو چې امریکایان او د هغوي ګوډاګیان، د کابل اداره د داسې غونډو څخه څومره ویره لري او پرمهال یې دوي څومره تر فشار لاندې وي نو که د دې اشغالګرو د شړلو او اسلامي نظام د اقامې لپاره ځینې وخت د ګناه ارتکاب کیږي باید چې د علیا مصالحو لپاره وشي.

موږ دوه لوړ هدفونو لرو، د اشغالګرو بشپړ شړل، د اسلامي نظام اقامه چې ترې په هیڅ صورت تنازل نه شي کیدلای خو که د دې اهدافو د ترلاسه کولو لپاره په خینو مواردو کې تنازل کیږي او یا د دې علیا مصالحو لپاره د ځینو غیرشرعي کارونو ارتکاب ته موږ مجبوریږو باید چې د وچې شیخۍ ته لاس وانه چوو چې د وړو ګناهونو د ارتکاب څخه د ځان ژغورنې په خاطر لوړ اهداف رانه پاتې شي.

د اسلامي امارت امراء ... د کردار اتلان

فاتح افغان

مثالي مشران هغه دي چې د ګفتار پر ځای په خپل کردار باندې خلکو ته ښوونه کوي، خپل ځان د مسلمانانو او خاصتا د خپلو پلویانو لپاره قدوه او نمونه وګرځوي، له همدې امله د اسلام دوهم خلیفه حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه چې کله امیر المؤمنین وټاکل شو نو دا تاریخ سازه کلمات یې د خپل رعیت په وړاندې وویل:

(ولست معلمکم الا بالعمل فسأدع عملي هو الذي یعلمکم أکثر من قولي) زه به یوازې د خپل عمل په وسیله تاسې ته ښوونه کوم، زه به خپل عمل ستاسې مخې ته کیږدم چې زما له قول څخه زیات تاسې ته زما عمل تعلیم درکړي.

د اسلامي امارت مؤسسین او امیران هم د کردار اتلان دي، نه د ګفتار، دوی خاموش وي، خو کړنې یې امر او نهیه کوي، دعوت چلوي، او پاخه اتباع روزي، دوی د نورو په څېر په مبالغه آمیزه شعارونو، رنګینو ویناوو، زړه رابنکونکو خبرو او اوږدو اوږدو لیکنو روږدي نه دي.

د الجزیرې د وتلي خبریال احمد زیدان په یوه لیکنه کې مې لوستي و چې یو ځل چا امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ته مشوره ورکړې وه چې باید د خپل تاریخ لیکلو ته پام وکړو.

امیر المؤمنین رحمه الله په ساده او پخو ټکو ځواب ورکړی و (چې مورږ تاریخ جوړونکي یو، نه تاریخ لیکونکي).

الله جل جلاله دې ددې سپیڅلي مشر- قبر د جنت باغچه وګرځوي په رښتیا چې تاریخ یې جوړ کړ، تنها واوسید، تنها وکوچید او د نړۍ پرمختللي

استخبارات يې د خلکو د خندا کړل، او په ربښتونې معنا متوکل، صادق، او دکردار اتل وخوت.

امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په توکل، تبتل، ثبات، اختياري فقر، ګمنامي، او اسلامي اخوت پاللو کې په خپلو افعالو افغانانو او د نړۍ مسلمانانو ته داسې درسونه تر شا پريښودل چې د نړۍ ستر مبلغين، داعيان او واعظان ورځخه عاجزه دي.

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله نشته خو افعال يې اوس هم د ټولې نړۍ مسلمانان د ظلم، اشغال، او فساد په وړاندې مبارزې ته رابولي.

دا ښکاره خبره ده چې د اعمالو په ذريعه درس ډير تاثير ګذاره وي په ځانګړې توګه د جهاد او قتال په ډګر کې ځکه د جګړې په ډګر کې د مشر- شتون خپلو افرادو ته معنويات ورکوي او مورال يې لوړوي، ځکه هغوی دې يقين ته رسيږي چې مشران يې د جهاد اهدافو ته ژمن او وفادار دي، له همدې امله کله چې يو جنګيالی ګوري چې مشر يې هم دده ترڅنګ د قتال سختی زغمي او په جهادي امورو کې برخه اخلي هغه به حتمن د خپل مشر اتباع کوي او د قربانی ډګرونو ته به له هغه ځخه د سبقت هڅه کوي.

د بيلګې په توګه کله چې د امير المؤمنين حفظه الله زوی استشهادي بريد کوي او پلار يې په

وړاندې خنډ نه جوړيږي بلکه ښه په ورين تندي اجازه ورکوي نور مجاهدين به څنګه د جهاد او استشهاد له ډګره ځانونه شاته کړي؟ او يا به له قربانی او سرښندنې څخه ځانونه وسپموي.؟

همدغه راز کله چې مجاهدين د امير المؤمنين اختر محمد منصور تقبله الله سوځيدلی وجود ګوري چې د ډرون په ناځوانمردانه ګذار کبابيږي نور مشران او مجاهدين به څنګه د ډرون له ويرې جهاد ته شا کړي؟

اما برعکس هغه خلک چې ستوني په بغارو شکوي خو عملا خپلو ويناو ته ژمن نه وي او اعمال يې داقوالو تکذيب کوي، هغوی د خلکو لپاره قدوه او نمونه نشي جوړيدلی، او خلک هم د هغوی په قيادت باور له لاسه ورکوي.

جهاد د دنياوي امتيازاتو جاه، مال او شهرت ترلاسه کولو لپاره نه ترسره کيږي، د جهاد ميدان ته چې عادي مجاهد په کومه جذبه او انګيزه راوتلی وي، قائد او مشر هم په هماغه جذبه راوتلی وي، د کوم هدف په خاطر چې افراد قرباني ورکوي دهماغه هدف لپاره مشران هم قرباني ورکوي، د کوم اجر او ثواب تمه چې مجاهدين لري مشران هم د هماغه اجر وثواب طلبګار وي.

ستر قائد حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم په خپله په ګڼ شمير غزواتو کې ګډون کړی او قسم يې کړی چې که جهاد ته له تلو څخه په بې وسه مسلمانانو زما فراق درونه نه تمامیدلی نو زه به له يوې جهادي غزا څخه هم شاته نه وای پاتې شوی.

ستر قائد صلی الله عليه وسلم له خپلو اصحابو سره په جهادي فعاليتونو کې پوره پوره برخه اخيستې او د جهاد دلارې ستړياوې او مشقتونه يې ګاللي دي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ كُنَّا يَوْمَ بَدْرٍ كُلُّ ثَلاثَةٍ عَلَى بَعِيرٍ فَكَانَ عَلِيٌّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ وَأَبُو لُبَابَةَ زَمِيلَيِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَكَانَ إِذَا كَانَتْ عُقْبَةُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالا يَا رَسُولَ اللهِ ارْكَبْ نَحْنُ نَمْشِي عَنْكَ فَقَالَ مَا أَنْتُمَا بِأَقْوَى مِنِّي، وَلاَ أَنَا بِأَغْنَى، عَنِ الأَجْرِ مِنْكُمَا. رواه النسائي وابن حبان).

له حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چې مورږ دبدر دغزا په ورځ درې درې نفر په يوه اوښ باندې نوبت په نوبت سپريدلو، علي بن ابي طالب او ابولبابة رضي الله عنهما درسول الله صلی الله عليه وسلم انډيوالان وو، چې کله به درسول الله صلی الله عليه وسلم دپياده تلو نوبت راغی هغوی دواړو به ورته ويل: يا رسول الله، ته سپور شه، دتاسې پرځای به مورږ پياده مزل کوو،

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته ويل: نه تاسې له ماځخه زيات غښتلي ياستی او نه زه له اجر څخه مستغني يم.

کله چې سید الرسل صلی الله علیه وسلم په خپله په جهادي غزواتو کې شرکت کوي، د مؤمنانو صفونه او هغوی ته د جنګ ځایونه برابروي، له هغوی سره په جهادي فعالیتونو کې برخه اخلي، ستونزې او سترپاوې ګالي، لوړه، تنده او زخمونه برداشتوي.

له یوه مجاهد مشر سره نه ښایېږي چې خپلو مجاهدو ملګرو څخه دسختیو او مشکلاتو په ګاللو کې شاته پاتې شي ځان ته مرفه او ارام ژوند غوره کړي او دقربانۍ او فداکارۍ له ډګر څخه ځان وباسي.

{مَا كَانَ لأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم مِّنَ الأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُواْ عَن رَّسُولِ اللّهِ وَلاَ يَرْغَبُواْ بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ لاَ يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلاَ نَصَبٌ وَلاَ مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَلاَ يَطَؤُونَ مَوْطِئاً يَغِيظُ الْكُفَّارَ وَلاَ يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلاً إِلاَّ كُتِبَ لَهُم بِهِ عَمَلٌ صَالِحٌ إِنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ } التوبة۱۲۰

ژباړه: دمدینې خلکو او شاوخوا باندې چیانو ته نه ښایې چې په خپلو کورونو کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه شاته پاتې شي، او یا دځان لپاره راحت غوره کړي حال دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دې په سترپاو او مشقتونو کې وي، دا ځکه چې که دوی ته په جهاد کې تنده سترپا او لوږه رسیږي او نه په داسې ځای قدم ږدي چې کفار په غوسه کوي او نه له دښمنانو څخه کوم مصیبت ورته رسیږي، مګر په دې ټولو دوی ته دنیک عمل اجر لیکل کیږي، بې له شکه الله جل جلاله دنیکانو اجر نه ضائع کوي.

لله الحمد داسلامي امارت مجاهدین او مشران هم ټول دشهادت تمنا لري، دشهادت په مرګ پسې دجهاد او استشهاد په ډګرونو کې ګرځي او یوله بل څخه شهادت ته وړاندې کیږي.

د صلیبي یرغلګرو دپرمختللې ټکنالوژۍ په وړاندې داسلامي امارت دمجاهدینو دثبات، استقامت، صبر او اوږدمهالي مقاومت راز هم همدا دی چې داسلامي امارت مشران دقربانۍ او سرښندونو له هیڅ میدان څخه نه دي په شا شوي.

داسلامي امارت د لوړې کچې ډیر مشران، والیان او قومندانان د جهاد په ګرمو سنګرونو او دجهادي فعالیتونو دترسره کولو په ترڅ کې په شهادت رسیدلي او د سرونو نذرانې یې وړاندې کړي.

شهادت او زمور مبارزه

حافظ نور احمد سعید

دغه لیکنه د شهید امیرالمؤمنین منصور تقبله الله دویارِ من شهادت د دریم تلین په مناسبت د نومورِي شهیدِي ارواته ډالی کوم.

دالله تعالی په لار کې سرښندنه (شهادت) هغه اوچت مقام دی، چې په قران عظیم الشان اونبوي احادیثو کې یې ډیر زیات فضیلتونه بیان شوي. ان حضرت صلی الله علیه وسلم د شهادت تمنی کړې، خواږه یاران او محبوب ملګري یې پر همدې لاره تللي او دنبوي صلی الله علیه وسلم کورنۍ نامتو او ناوزلو غړو (حضرت حمزه او حضرت حسین رضی الله عنهما) دشهادت جامونه پر سر اړولي دي.

د اسلافو شهادتونه زمورِ دلارې بل مشالونه دي. شهادت زمورِ دمبارزې مهم اړخ دی. که شهادت ته تیاري نه وي، مبارزه به ټکنۍ وي، مبارزه چې کمزورې وي، دښمن به قوي وي، په خلاص لاس به خپل پلانونه عملي کوي، په اسلامي شعایر او ارزښتونو به ملنډې وهي، شتمنۍ به مو زبیښي او ازادي به موتروړي.

زمـوږ دشـهادت څلـی ډیـر لـوړ دی. دقـران کـریم ډیرو حافظانو، ددیني علومو پتنگـانو، مبـارکو فـدایانو او مخلصـو مسـلمانانو سرونـه پـرې ایښـي. زمـوږ صـف د شهادت مثال دی. دلتـه کـه یو ګمنام مجاهـد سر نذرانـه کـوي، نـو دامیـر المـؤمنین حفظه الله د زړه ټوټه هم په ځان پوري بمونه تـړي. دلتـه که د یو مجاهد بچیـان د پلار له سیوري بې برخې کیږي، نـو دامیرالمـؤمنین مـلا اختر محمدمنصور تقبلـه اللـه پـه ویـاړمن شـهادت ولسونه دویر او ماتم پر ټغر کښېنـي.

زمور دشهیدانو کاروان ډیـر لـوی او پـراخ دی. دټولو قومونو او قشرونو استازي پکـې برخـوال دي. زمور شهادت ددښمن مختوري ده. له همـدې املـه دښمن زمور شهادت نشي زغملای. له مختلفو لارو او چینلونو کوښښ کوي چې زمـوږ پـاک شـهادت د (مـادې) پـه رنـګ ورنګـوي او سـپېځلې مبـارزه مـو داغداره کړي.

داسي بدمرغه هم شته، چې دافغانیت دعـوه کـوي، خـو زمـوږ مبـارزه او جهـاد افراطیـت بـولي، استشـهاد مـو جنـون ګڼـي او اسـلامي نظـام تـه د انتهاء پسندۍ نوم ورکوي. دا هغه بدبخته او پـردي پال عناصر دي چې دغرب په افکارو او ډالرو تغذیه شوي. دحماقت وانتهاء ته رسـیدلي. ددوی مـوخې ډیرې وړې او محدودې دي او د ژوند تر ټولو لوی او اخري هـدف یـې فقـط دنـس وفـرج پـه اشـباع کـې ایسار دی.

مـوږ دمعرکـې میـدان تـه دشـهادت لـه ارمـان سره ځـو. شـهادت زمـوږ مبـارزه لا پیـاوړې کـوي. شهادت دجهاد بڼ خړوبوي.

یو شهادت مو سلګونه ځوانان دشهادت ډګـر ته سوقوي. شهادت مو ددښمن بـیخ بـاسي، ارادې یې سستوي او داضطراب او شرمندګۍ پـه سـمندر کې یې غرقوي.

دولسي وګړو قتل عام

او د نړۍ دردوونکې خاموشي

حسن زوی

په دې وروستیو کې چې دګډوځواکونو په نوم غاصبو امریکایې فوځیانو او دکابل اداري غلامو وسلوالو د افغان ولس پرضد شپنیو عملیاتو او بمباریو نتیجه کې چې څومره عام خلک شهیدانېږي داشغال په تېر ۱۸کلن دور کې به شاید ساری ونه لري.

دولسي وګړو ددې روان قتل عام دزیاتره پېښې چې پټېدای نه شي نوپه اړه یې مجبوراً کورنۍ اونړیوالې رسنۍ خبرونه اوراپورونه خپروي چې له همدې لارې نړۍ ددې روان حالت نه خبرېږي خومتسفانه چې مهذبه نړۍ چوپه خوله ده اوپدې اړه نه دنړیوالې ټولنې اونه هم دنړیوالو مسئولوادارو له لورې کوم مناسب عکس العمل رامخې ته کېږي.

هو! دهېواد د داخلي چینلونوله لورې په جوړوشویو ګردومېزونوکې ټول بې طرفه شنونکي تر بل هر وخت دولت ته زیات غصه دي؛ پرې سخت انتقادونه کوي اوښه په جهرټول وایې چې پدې عملیاتو اوبمباریوکې ټول په ټوله ملکي خلک: بوډاګان، کوچنیان، ښځې، دمدرسې، پوهنتون، او مکتب زده کونکي ځوانان اواستاذان وژل کېږي.

کورونه، جوماتونه، مکتبونه، بازارونه، مدرسې، کلینیکونه او حتی خیریه موسسات له منځه بمبارکېږي سوځول کېږي اوله منځه ځي.

اوداځه یوه ورځ نده بلکې هره دوهمه یا دریمه ورځ پس په چاپواو وحشي بمباریوکې په لسګونوبې ګناه خلک وژل کېږي نن چې داځوکرښې لیکم او دمئ ۲۷ مه نېټه ده له رسنیو اورم چې دامریکایې عسکرو اوکورنیو ګوډاګیانوپه شریکو عملیاتو کې دپکتیکا په برمل ولسوالۍ کې د۴ ښځو او۷کوچنیانو په ګډون ۱۸ ملکي وګړي شهیدان کړیدي او وړمه ورځ درسنیوله لورې په خپروشویوراپورونوکې راغلي ووچې امریکایې اشغالګرواوګوډاګیانو په ننګرهار، پکتیکا اوهلمندکې دکوچنیانو اومېرمنو په شمول ۱۹ملکي وګړي شهیدان کړیدي.

دولس پرضد د وحشت د ډېر زیاتوالي اصل لامل دادی چې اسلامي امارت په فوځي اوسیاسي دواړو ډګرونوکې تر بل هر وخت خورا زیات برلاسی دی چې ټوله نړۍ پدې معترفه ده.

دکابل اداره او امریکا پدې دواړو ډګرونوکې داسلامي امارت په پرمختګونو د پردو را اچولوهڅې کوي خوپکې نه کامیابېږي.

نړۍ شاهده ده چې په پلازمېنې کابل کې په ډېروحساسوځایونوکې پر خارجي اوداخلي دښمن مسلسل کامیاب بریدونه کېږي چې پکې دسر اومال دومره درانده تلفات ور اوړي چې دټولوهڅوبا وجود یې دښمن په پټولو نه توانېږي.

اود ولایتونوحال خوهم له چاپټ ندی داسلامي امارت مجاهدینودالفتح عملیاتو داعلانولونه پس په تېره کمه موده کې په لسګونوولسوالۍ اوفراخې سیمې ددښمن دناپاک وجود نه پاکې کړې؛ په سونوپوستې اوعسکري مرکزونه یې ونیول هره ورځ دښمن ته ښه زیاته مرګ ژوبله وراړوي.

نن چې دمئ ۲۷ مه نېټه ده په رسنیو کې خپاره شوي راپورنوکې راغلي دي چې داسلامي امارت مجاهدینوله لورې په ۲۶ ولایتونوکې ددښمن پرعسکري مراکزو، پوستواوقطارونود ۵۲ کامیابو وړو اوستروعملیاتو په ترڅ کې ۱۰۳ عسکر اوپولیس وژل شوی او ۷۰ نور ټپیان دي

اوله دې یوه ورځ وړاندې په مختلفوولایتونوکې دوژل شویوشمېر ۸۶ عسکرو ته رسېدلو ترڅنګ یې دهلمند ولایت په نوزاد ولسوالۍ کې دامریکایانو یوه اپاچي هلیکوپترهم طالبانو رانسکوره کړی چې هلیکوپتره په ټولیزه توګه سوځېدلې او پکې سپاره ۱۳ امریکایان وژل شویدي.

دعسکري میدان ترڅنګ داسلامي امارت سیاسي پرمختګونه هم له تمو زیات شوي دي.

د امریکایانو سره داسلامي امارت مخامخ نتیجه خیز مذاکراتي جریان، د ماسکو کانفرانس؛ له نورې نړۍ سره د اسلامي امارت د سیاسي استاځو مستقیمو تماسونو؛ دقطردفتر ته دنړۍ دلوړ رتبه سیاسیونوپرله پسې سفرونو او ورسره هم مهاله په دوحه کې د اسلامي امارت او امریکایانو ترمنځ د مذاکراتو د ٦م پړاو په بریالیتوب سرته رسېدلو او په مهمو موضوعاتو همغږي او د نظر توافق

د کابل رژیم په کلي ډول اړخ ته کړی اوله مرګاني انزوا او تجرید سره يې مخ کړی.

اوس دټولې نړۍ توجو اسلامي امارت ته ده اود امریکایانو په شمول هېڅ یو هیواد د کابل رژیم طرحو او خبرو ته غوږ نه نیسي، او غوږ نیول ورته د وخت ضیاع بولي.

نه کابل ته دبهرنیانو گرم گرم سفرونه شته، نه په خارج کې د افغانستان د روانې جګړې د تودوالي او پراخېدو لپاره هغه بهلابهل کنفرانسونه شته چې اشرف غني او ډاکټر عبدالله به ورتلل او څو څو میاشتې به يې د هغو ناستو په لاسته راوړنو شخوندونه وهل او نه هم دامریکا اوناټو دغړیو هیوادونو دنورو تازه دموعسکرو دلېږلو وعدې شته.

د کابل د ګوډاګي رژیم مشر- اشرف غني د خپلې فرمایشي او جعلي (لویې جرګې) په مټ هڅه کوله ترڅو ځان له هغې داخلي رسوایۍ او بهرنۍ انزوا څخه خلاص کړي؛ کوم چې اسلامي امارت د خپلې بریالۍ او منطقي سیاسي تګلارې په مټ ورسره مخامخ کړیدی خودهغه له بده مرغه چې پرې ونه توانېد بلکې دلویې رسوایۍ سره پکې مخامخ شو ځکه چې د دولت له نیمایي زیاتو غړو اوله یوتن دوه پرته ورسره ټولوسیاسي احزابو مقاطعه وکړه او په عمل کې يې د اسلامي امارت د سولې لپاره روان بهیر تائیدکړ.

بزدل امریکایان اوداخلي غلامان چې داسلامي امارت داسیاسي پرمختګونه ورته دزغم وړ ندي اوترځنګ يې دطالبانو دتندریزو بریدونوپه مقابله کې ددفاع توان هم په کلي ډول له لاسه ورکړی نودخپل شکست غچ له افغان ولس نه اخلي اودشپوپه چاپواوبمباریوکې يې دکوچني، لوی، نر ښځې، ځوان اوبوډا دامتیاز پرته په ډېرې بې دردۍ وژني اوبیا اعلان کوي چې دومره طالبان مو ووژل حال داچې ددوئ دهرې شپې ترسره شویوعملیاتونه پس خلک په سبا ددوئ پر ضدمظاهرې کوي اودمړو جنازې هم سرکونواوبازارونوته راوباسي خودوئ پرې هیڅ غوږ نه ګروي اوپه ځینوموارد‌و کې ایله همدومره ووایې چې ځېرنې به وکړي.

خو عجیبه داده چې هغه غربي نړۍ چې ځان دبشر دحقوقو ددفاع اتله بولي اوپه خپلو هېوادونوکې دبد امنۍ دیوې کوچنۍ پېښې په رامنځته کېدونړۍ په سر راخلي دلته پدې ستر وحشت نه یواځې داچې چوپه خوله دي بلکې دمالي اوسیاسي تائید له امله پدې روان وحشت کې من وجهٍ شریک هم دي.

دلویدیځ دشرم نه ډکې خاموشۍ نه زیاته دتأسف وړدملګرو ملتونوخاموشي ده

تاسې وګورئ! د امنیت شورا د ۱۰۴۲ پرېکړه لیک په اساس په ۲۰۰۲ میلادي کال ملګرو ملتونو په افغانستان کې د دملکي تلفاتو دمخنیوي او نورو بشرې سرغړونو د څارنې په غرض د (یوناما) دفتر پرانیست، که څه هم دغه دفتر وخت په وخت په دې اړه یو نیم غږ پورته کوي؛ راپورونه يې هم خپاره کړي خو متأسفانه چې دملګرو ملتونو دغه راپورونه دبې طرفۍ په اساس بنا ندي، نو نه دملکي تلفاتو

مخنیوي ته پاملرنه شوې اونه هم پدې اړه کوم عملي قدم پورته شوی.

په افغانستان کې د جنګ ښکېلې غاړې دوه طرفه دي یو طرف ته ناټو، امریکا او دکابل اداره ده اوبل طرف ته دافغانستان اسلامي امارت دی هرځوک دامني چې ملکي تلفات دبمباریو، شپنیو عملیاتو، د توپونو درندو انداختونو په اثر رامنځته کیږي چې دادامریکایانو اوکابل اداري دعسکرو کار دی، خو د" یوناما" دهري ربعې، دوو ربعو او پوره کال راپورونو کې دوئ نه په ګوته کېږي، یونامادخپل هر راپور په جوړولوکې اشغالګرې قواوې اودکابل اداره له پامه غورځوي اوپه ډېره کمې فیصدی کې یې راوړي او داسې ښکاره کوي لکه چې ډېر ملکي تلفات دطالبانوپه بریدونوکې رامنځته کېږي حال داچې طالبان نه په کلوبمبار کوي، نه شپنې چاپې وهي اونه هم په کلوتوپونه وروي.

لرې به نه ځو اسلامي امارت چې دکله نه دالفتح عملیات اعلان کړي څوک دې وښایې چې ددوئ له لورې یوملکي وګړی وژل شوی وي اویا ددوئ په اړه د ولس له لورې دافغانستان په کوم ګوډ کې شکایت شوی وي حال داچې داشغالګرو او ګوډاګې اداري پرضد هره ورځ دولسي وګړو له لورې مظاهري کېږي.

امریکاچې هیڅ یوې نړیوالې اداري ته اجازه نه ورکوي چې په افغانستان کې دامریکایي سرتېرو دجنګي جرمونوپه اړه څېړنې وکړي نو ویلی شو چې دملکي تلفاتو په مخنیوي کې د (یوناما) راپورونه هم دهمداسې یوه فشار په نتیجه کې تیارېږي چې داډېردافسوس مقام دی. امریکا په خپلې بدماشۍ دملګروملتونو دادارې حیثیت دخاورو سره خاورې کړیدی.

دملګروملتونو اداره او خصوصا دامنیت شوری باید نور دامریکا له فشارونو نه ځان راوباسي.

دامینت شورا باید خپل مسؤلیت په مسؤلانه ډول ترسره کړي اوپه افغانستان کې دملکي تلفاتو په مخنیوي کې جدي ګامونه پورته کړي؛ عاملین یې په ګوته او له دغه جنایت څخه یې ژر ترژره وګرځوي.

اسلامي امارت چمتو دی چې دملکي تلفاتو د مخنیوي او پدې اړه د آزادوځېړنو لپاره دهرې نړیوالې اداري سره مرسته وکړي اوددې هدف لپاره یې کلي په کلي وګرځوي ترڅو اصل مجرمین معلوم اوناولې څېړې یې نړۍ ته ښکاره شي.

خو دا یقیني ده چې امریکایې اشغالګر اودکابل اداره به هیڅ یوې نړیوالې اداري ته اجازه ورنکړي چې پدې اړه آزادې اوبې طرفه څېړنې وکړي ځکه چې پدې سره دوئ دستړي رسوایئ سره مخامخ کېږي.

نو له همدې املې مورِ دټولې مهذبې نړۍ نه غواړو چې ددې وحشت پر ضد راپورته اوپه خپلو دولتونو فشار راولي ترڅودامریکایې اشغال او دګوډاګې اداري دتائید نه لاس واخلي او افغانان پرېږدي چې خپل برخلیک ځان ته پخپله وټاکي.

د الفتح عملیاتو په وړاندې

د دښمن وار خطایي

احمد مختار

د روان هجري لمریز کال د وري د میاشتې په ۲۲ نیټه د افغانستان اسلامي امارت د الفتح په نوم جهادي عملیات اعلان کړل.

دا عملیات لکه څرنګه چې یې نوم الفتح دی له پیله له سترو فتو حاتو سره مل وو چې د هیواد په بیلا بیلو سیمو کې یې دښمن ته ملا ماتوونکي ګذارونه ورکړل.

له نیمروزه نیولې تر بادغیس فراه، هرات قندوز کابل، غزني، زابل او... پورې د الفتح عملیاتو په ترڅ کې ډیرې سیمې د دښمن له کنتروله بهر او ګڼ شمیر بهرنیو یرغلګرو او داخلي ګوډاګیانو ته ورکې د سر او مال درانه تاوانونه واړول.

کابل د لومړی کرښې په توګه

د الفتح عملیاتو په لړ کې چې عملیاتي ساحه یې د پلازمینې کابل په شمول د هیواد ټول ستر ښارونه او سیمې دي مجاهدین وتوانیدل چې د جګړې کرښه د کابل له همجواره ولایتونو څخه د کابل ښار داخل ته را وغځوي.

همدا وجه ده چې الفتح عملیاتو له پیله څوکرته د کابل ښار په دننه ګرین زون (زرغونه ساحه) کې په بهرنیو یرغلګرو پورې مربوط پوځي او استخباراتي اهداف په نښه او یرغلګرو ته درانه زیانونه واړوي.

د بیلګه په توګه د غوایي د میاشتې په ۱۸ د چارشنبې په ورځ مجاهدینو د کابل ښار په داخل د شهرنو په سیمه کې د 'کونټر پارټ' په نوم بهرنۍ استخباراتي مؤسسه په نښه کړه چې په نتیجه کې یې



د یادې مؤسسې ۹ تنه کاروکوونکي مړه او تر شلو تنو نور زیات ټپیان شول.

همداراز د روان کال د غبرګولي د میاشتې په اتمه نیټه مجاهدینو د کابل ښار د نهمې حوزې اړوند د وزیر کلا او قابل بای ترمنځ د بهرنیو یرغلګرو یو موټرېز کاروان په نښه کړ چې له امله یې تر لسو تنو زیات بهرني یرغلګر ورکې مړه او ژوبل شول.

د دغو دوو فاتحانه عملیاتو په تعقیب د مجاهدینو سیارو چریکي ګروپونو د پلازمینې په دننه کې د مزدور رژیم د دفاع او کورنیو چارو پر مربوطو امنیتي مراکزو هم بریدونه وکړل چې د رژیم داخلي ګوډاګیان ورکې مړه او ژوبل شول.

تبلیغاتي فضیحت

په داسې حال کې چې اسلامي امارت د الفتح عملیاتو په ترڅ کې له پلازمینې کابل پرته د ولایتونو په مرکزونو او ولسوالیو کې ډیر پوځي بریدونه وکړل خو دا چې هغه سیمې د رسنیو له تبلیغاتي پوښښه وتلې دي نو د کابل رژیم چارواکو به نورهم رسنۍ تر خپل فشار لاندې راوستلي چې له ولایاتو او لیرې پرتو سیمو څخه د مجاهدینو د پوځي عملیاتو خبرونه نشر نه کړي.

خو کله چې مجاهدینو د الفتح عملیاتو عملیاتي ساحه د کابل ښار داخل ته را وغځوله او هلته یې پر بهرنیو یرغلګرو، د هغوي پر استخباراتي مؤسسو او

همدا راز د رژیم پر امنیتي مرکزونو داسې بریدونه وکړل چې د هغوی پټول د رژیم له توانه وتلي وو نو په دې سره رژیم له یوه ښکاره تبلیغاتي فضیحت سره مخ شو.

ځکه پر 'کونټر پارټ' مؤسسې برید چې څلور ساعته یې دوام وکړ په کابل کې د ټولو میشتو رسنیو پام ځانته را واړو وه او د کابل رژیم امنیتي او مطبوعاتي چارواکې له دې څخه عاجز وو چې دغه برید او د هغه جزئیات له رسنیو څخه پټ کړي.

همدا راز د قابل بای برید چې بهرنیو یرغلګرو په خپله په هغه کې د خپلو څلورو تنو ژوبلیدل ومنل د الفتح عملیاتو په مقابل کې یې د بهرنیو او داخلي ځواکونو وړتیا وننګوله.

د الفتح عملیاتو له پایلو څخه رژیم د دفاعي چارواکو وار خطایي

د رژیم امنیتي او دفاعي چارواکي چې د کابل ښار په دننه او د نورو ولایتونو په مرکزونو او اطرافو کې د الفتح عملیاتو د جهادي پلانونو له مخنیوي څخه ناتوانه شول نو یې د هغوی په خلاف په تبلیغاتي کمپاین لاس پورې کړ.

د رژیم په دغو تبلیغاتي کمپانرانو کې یو هم د رژیم د دفاع وزیر اسد خالد دی چې په خپل نوم اعلان کړي عملیات یې له شکست او رسوایي سره مخ شول.

نوموړی فقط د یوه دروغ ویوونکي جارچي په توګه په رسنیو کې د خپلو ماتي خوړلیو ځواکونو په وسیله کله په زابل، کله په کندهار او کله د هیواد په نورو سیمو کې د سوبو اعلانونه کوي او په دې سره خپلو ماتي خوړلیو عسکرو ته مورال ورکوي.

هغه له دې څخه په ډار کې دی چې که مجاهدین د کابل په عملیاتي ساحه او همدا راز د نورو ولایتونو په مرکزونو کې د الفتح عملیاتو پروګرامونه زیات کړي زه به یې رسنیو ته په مقابل کې څه ځواب وایم؟

دا به په راتلونکي کې معلومه شي چې د یرغلګرو او د هغوی د مزدورانو په مقابل کې موفقیت د جهادي فاتحینو په برخه کیږي او که د یرغلګرو او یا هم د هغوی د ماتې خوړلیو مزدورانو؟

خو هغه څه چې تر اوسه ښکاره دي هغه دا چې د امریکایي یرغلګرو له ټول وحشت او بربریت سره سره مجاهدین له خپل دین او هیواد څخه د دفاع په سنګرونو کې په خورا عالي مورال په فاتحانه توګه مقاومت کوي چې له امله یې هم امریکایي اشغالګر له مجاهدینو سره د خبرو میز ته مجبور شوي او هم یې د هغوی بې واکه ګوډاګي اشرف غني په هر مناسبت کې مجاهدینو ته په مذاکراتي بهیر کې د ورګډولو زاری کوي.

ادلب کې سترو حشت

او د غربي نړۍ سترمنافقت

شهید زوی

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي او له نړیوالو رسنیو به یې اوري چې دروان ۲۰۱۹ م کال داپریل دړومبۍ اوونۍ راهیسې دشام جابر ولسمشر- بشار الاسد دخپلو مهمو اتحادیانو روسې او ایران په مرسته دسني مسلمانانوپه ګڼ مېشتې سیمې ادلب کې دظلم او وحشت خوراخونخواره نوې لړۍ پیل کړیده چې له امله یې لوی ورانی رامنځته شوی او ډېر بې ګناه مسلمانان شهیدان شویدي .

چې داڅوکرښې چاپ اوبیا خپرېږي حالت به څه وي ؟ الله تعالی ښه پوهېږي خواوس حالت دادی چې دروسې او ایران په مرسته دبشارالاسد وحشي فوځونه مسلسلې هوایې او ځمکنۍ حملې کوي ؛ دهوایې وحشي بمباریو په نتیجه کې بې شمېره ودانۍ دځمکې سره برابرې شویدي اوپکې د کوچنیانو اومېرمنوپه شمول په سونو مسلمانان شهیدان شویدي ؛ دادلب په سرکونو دانسانانو سوځېدلي جسدونه پراته دي خو څوک ورپسې راوتلی او دبمباریو له وېرې یې پورته کولی نه شي .

دټولنیزو رسنیو له لارې دټپي او شهیدانو شویو کوچنیانو اولویانو خپاره شوي عکسونه سخت زړه دردونکي دي چې په مسلسل ډول خپرېدا یې باید بشري ټوله نړۍ لړزولای وای خو متأسفانه چې ټولې نړۍ دسکوت روژه نیولې ده؛ټوله نړیواله ټولنه دبشار دفوځ دوحشت ننداره کوي او هیڅوک ددې وحشت دودرولو لپاره اقدام اړین نه بولي.

ویل کېږي چې دمعرة النعمان ،معرةحرمه ، خان شیخون ، سفوهین او کفرزیتا نومي سیمې په اوسنو هوایې بریدونوکې سختې اغېزمنې شویدي .

تر اوسه له ادلب نه ۴ سوه زره انسانان نورو سیمو ته کډه شویدي اوپکې پاتې ۳ ملیونه خلک دمرګ دستر ګوابښ سره مخامخ دي

ادلب اوس په بشپړ ډول ترهوایې او ځمکنۍ محاصرې لاندې دی ؛نه ترې څوک خوندي ځای ته وتلی شي او نه هم دوئ ته څوک دوا او خوراکي مواد ورورلی شي.

په اوسني وحشت کې یوه دردونکې خبره داده چې دبشارالاسد فوځونوله لورې یو ځل بیا پر ولسي- وګړوکیمیاوي مواد کارول شویدي ؛ دفرانسې دباندنیو چارو وزیر(زان ایو لودریان) دملي اسامبلۍ دباندنیو چارو کمېټې ته دخپلو څرګندونوپرمهال ویلي دي چې دسوریې دولتي ځواکونوله لورې په ادلب کې پر ولسي وګړو دکیمیاوي موادو دکارول کېدوشواهدیې ترلاسه کړیدي چې پدې اړه باید دملګرو ملتونو اداره لا زیاتې څېړنې وکړي .

له دې وړاندې دمئ په ۲۲ مې نېټې دامریکا دولت ادعا کړی وه چې په ادلب کې داسد رژیم له لورې پر ولسي وګړو دکلورین غاز دکارول کېدوځنې نښې رامخې ته شویدي ؛ دکیمیاوي موادو دکارول له سرې کرښې اوړېدل دي چې دابه له ځانه سره بد عواقب ولري.

دیادولو وړ ده چې دکیمیاوي موادو دکارولو په تور امریکا له دې وړاندې دوه ځلې داسد رژیم فوځي مرکزونه دحملې هدف ګرځولي وو .

د۲۰۱۷م کال په اپریل میاشت کې په خان شیخون کې داسد رژیم کیمیاوي مواد کارولي وو اوبیا یې دمشق ته څېرمه په دوما نومي سیمې کې داناوړه عمل تکرار کړی و چې له امله یې امریکا او فرانسې دواړو داسد رژیم پر ضد دعملیاتوپرېکړه کړی وه .

په تېرو وختونوکې چې کله هم داسد رژیم دکیمیاوي موادو په کارولو تورن شوی نو ورنه یې ښه په شدومد انکار کړیدی ؛ دتېرپه څېر داځل هم انکارکوي اونه مني چې ګینې په ادلب کې یې کیمیاوي مواد کارولي دي.

دیادولو وړده چې ادلب د اسدي رژیم دمخالفینو وروستی پناه ځای دی چې پرې فوځي یر غل دنړیوالو اصولو نه ښکار سرغړونه ده ځکه چې دتېر ۲۰۱۸ م کال په ستمبر کې دروسې په سوچې ښارکې دترکې ولسمشر طیب اردګان اودروسې ولسمشر پوتین ترمنځ دلیدنې پرمهال ددواړو مشرانو تر منځ دیو رامنځته شوي تړون له مخې ادلب (ګرین زون) یانې دخلکولپاره دجنګ نه مصئونه اوغیر نظامي سیمه ګرځول شوی وه ؛

ددې تړون له مخې ادلب دهغو څلوروسیموځخه یوه وه چې پکې په قانوني لحاظ هر ډول نظامي فعالیتونه ممنوع وو خو روسې او اسدي رژیم ددې تړون هیڅ لحاظ ونه ساتلو اود روان ۲۰۱۹م کال داپریل دړومبۍ اوونۍ نه یې پر ادلب هوایې بریدونه

پیل کړل چې تر اوسه روان دي ؛ دهوایې بریدونوسره یوځای ددرندو توپونو پر مټ ځمکنې بریدونه هم دوام لري ؛ دروژې مبارکې میاشتې په رارسېدو دا بریدونه لا زیات شول او اوس چې اختر رانېږدې شو زیات زور یې واخست او وحشت دې حد ته ورسېد چې په وروستو بریدونو کې دصحت مرکزونه هم په قصدي ډول په نښه شویدي چې له املـه یې دلتـه دیوستر بشري ناورین درامنځته کېدو وېره محسوسېږي .

په ۲۰۱۱م کال کې په شام کې ددولت پرضد پیل شوی پاڅون چې دبشارالاسد له لورې دوحشت نه ډک عکس العمل ښکاره کولو له املـه یې وسلې تـه لاس کړاوپه کم وخت کې پرمنظم وسلوال ځواک بدل شو دبشارالاسد قوي اومنظم فوځ یې پر وړاندې دمقابلې توان له لاسه ورکړ اوپه کابو ۴ کلونوکې یې دشام زیاتره برخه ترخپل واک لاندې راوسته اوچې دبشارالاسد فوځ یې په صحیح معنوکې په گونډوکړنو بشارالاسد دهېواد پرېښودلو اوچرته بل هېواد کې پناه اخستلوته تیار شوی و؛ خوچې په منځ کې داعش راپیدا اوجهادي ډلې په خپلومنځونوکې په جنگ اخته شوې او دبشارالاسد دفوځونوپرضد یې دجنگ کولونه توجو واوښته نوبشارالاسد او اتحادیانو یې همدا وخت دخپل ځان لپاره ښه فرصت وگڼلو.

لبناني ملېشې حزب الله ؛ دایران پاسداران انقلاب اوپخپله دبشارالاسد ملېشو دځمکې له لارې ددرندو توپونوپرمټ د دولت دمخالفینو تر واک لاندې سیموباندې بریدونه پیل کړل اودهوا له لارې ورسره د روسې د وحشت نه ډک بمبار مل شو چې ورسره سم د داسد رژیم دواک ساحه په پراېښېدو شوه اوله لاسه وتلې سیمې یې ورو ورو بېرته تر واک لاندې راغلې .

نو په شام کې د ولسمشر- بشارالاسد پرضد د راپورته شوي ولسي پاڅون په ځپلو کې ،ایران،دلبنان حزب الله ؛نورې شیعه لسگونه ډلې او روسیه دبشارالاسد سره اوږه په اوږه ودرېدل؛ دوئ خپل ټول زور وکاراوه؛خپل ټول وحشت یې ښکاره کړ او په سني مېشتو سیمو کې یې ښه ډېر بې گناه انسانان ووژل؛آباد ستر ښارونه یې په کنډوالو بدل کړل ؛ په ملیونونو انسانان یې دخپلو کورونو نه هجرت کولو ته اړکړل او پدې لار کې یې دغربي نړۍ دنمایشي- مخالفت څه پروا هم ونه ساتله اورښتیا داده چې داسبابو پدې نړۍ کې همدوئ بشارالاسد بچ کړ که ددوئ فوځي حمایت نه وای ډېر وړاندې به دبشار واکمني له منځه تللی وه

نو بشارالاسد ددې دریې واړو داحسان پوروړی دی خو دروسې داحسان بار پرې له نورو دواړو ځکه زیات دی چې دعقیدوي ملحوظاتو پرته یې ورسره مرسته کړې او په داسې وخت کې یې ترشا ودرېدلې چې دبشارالاسد نه مخالفینو ډېر ستر ښارونه نیولې وو،دواک ساحه یې ډېره محدوده شوې وه او دمخالفینو په لاس یې اداره ړنگېدو ته بیخي نېږدې وه؛ بس دا دروسې طیارو نه درانده درانده بمونه و چې دمخالفینو په واک کې سیمو باندې به ورغورځېدل؛او ترهغې به پرې بمبار روان و چې ترڅو به هغه سیمه دانسانانو له وجود نه په کلي ډول پاکه او ابادي به یې دخاورو سره خاورې شوی نه وه؛ بیابه

دبشارالاسد وحشي ملېشې ورغلې دفتحې بيرغونه به يې په همدې سيموکې ودرول او سيمه بـه مفتوحـه او ددښمن دشتون نه پاکه وګڼل شوه.

دا چې روسې دبشارالاسد په شـتون کـې خپلـې مادي ګټې لپدلې نو ځکه يـې دا ټـول وحشـت پرغـاړه واخسـت او ترپايـه يـې پـه پـوره ډاډ دبشارالاسـد دې حمايت ته ادامه ورکړه او چې مخالفينو شکست وخـوړ او دهېـواد زيـاتره برخـې بيرتـه دبشارالاسـد دفوځونـو ترواک لاندې راغلې نو اوس پرروسې هم دبشارالاسد له لورې هغه لورينې شروع شويدي دکومو لپـاره چـې يـې دبشارالاسـد دا دومـره اوږد حمايـت وکړچـې دطرطوس په نوم د ټولې سيمې پـه سـطحه خـورا ډېر زيات ستراتيجيک اومهـم سـمندري بنـدر روسـې تـه ورکول ددې لړې لومړۍ ستره کړۍ ده او رښتيا دا ده چې روسې ته دبشارله لورې دا ډېره ستره ډالۍ ده.

دروسې دلومړي وزير مرستيال يوري بوريسوف څـو ورځـې دمخـه دمشـق تـه دسـفر پرمهـال دشـام دولسمشر بشارالاسد سره دليدنې نـه پـس مطبوعـاتي کـانفرانس تـه دوينـا پرمهـال وويـل: دشـام ولسمشر- بشارالاسد سره يې دطرطوس بندر په هکله خـبره وکـړه او هغـه دې تـه چمتـو شـو چـې د۴۹ کلونـو لپـاره دطرطوس بندر روسې ته په اجاره ورکړي چـې دهغـه دچمتووالي نه پـس ددواړو هېوادونـو تـرمنځ پـدې اړه ټرون لاسليک شو.

نو داسدي رژيم نه دروسې حمايت نظامي و، ښـه ډاګيز و اوتر ننه يې دوام وموند خوبرعکس داسدرژيم دمخالفينونه دامريکـا اونورلويـديځ دحمايـت اومرسـتو اعلانونه يوه دسيسه اودمنافقت نـه ډک شـوم پـلان و. ډېرو محترمولوستوالو ته بـه يـاد وي چـې پـه ۲۰۱۱م کې چې دشام ولس دبشارالاسد دظلمونـو پرضـد قيـام وکړ نو امريکاپه ډېرتاکيدويل چې بايـد دقيـام کونکـو مرسته وشي او دبشارالاسد زورواکۍ ته دپـای ټکـي کښېودل شي .

ډېروخلکودامريکـادا څرګنـدونې پـدې معنـی اخستی چې ګينې امريکا به ددې پاڅون کوونکو ترشا ودرېږي او دوحشي ديکتاتور بشارالاسد په راپرځولـو کې به په رښتيا مرسته وکړي خـو پـه عمـل کـې بيـا دامريکـا منافقـت ټـولې نـړۍ تـه روښـانه شـو او دا هرچاته معلومه شوه چـې دامريکـا هـدف دبشارالاسـد دادارې رانسکورول نه بلکې دبشارالاسد واکمنۍ تـه طـول ورکـول او دده واک تـه دطـول ورکولـو نـه پـه استفادې پـدې هېـواد کـې تـر اوږدې زمـانې ددا خلـي جنګ جاري ساتل ؛دمسلمانانو ددې تاريخي هېواد تباه کول او له همدې لارې په ټـول ختـيځ کـې دشـيعه او سني فرقه ايز، نه ختمېـدونکي جنـګ تـه لار برابـرول دي.

امريکا چـې پـه پيـل کـې دايوزيسـيون پـه نـوم دبشارالاسد مخالفينو سره مرستې وکړې نو هـدف يـې واک تـه ددوئ رسـول؛ددېکتاتور لـه منځـه وړل او ولسواکي يا جمهوري نظام راوسـتل نـه و بلکـې دوئ ددې جوګه کول و چې دبشارالاسد پرضد په ټول هېواد کې جنګ جاري وساتلای شي خو کله چې دوئ قـوي شول؛دبشارالاسد واک دهېواد دځلورمې برخې نـه هـم کمو سيمو ته محدود او د۲۰۱۵ م کال په دسـمبر کـې

يې سقوط تقريباً يقيني شو نو امريکا په همدغه وخت کې شاته شوه او داسې پاليسې يې غوره کړه لکه چې دشام دستونزې سره دامريکا هيڅ تړاو نه وي او نه يې ورسره څه لېوالتيا وي ؛ځان يې بيخي بې طرفه کړ چې هدف يې ډګر ته دروسې او ايران راوستل او له دې لارې بېرته دبشارالاسد ملا مضبوطول و چې همداسې و هم شول.

روسې دامريکا دهمدې بې طرفۍ نه په استفادې په شام کې فوځي مداخله وکړه؛د۲۰۱۵م ددسمبر په اواخرو کې دروسې جنګي طيارو دشام په ښارونو بمبار پيل کړ او خپل لوی سمندري جازونه يې دطرطوس بندرګاه ته راورسول خو امريکا دروسې په مقابل کې کوچنۍ عملي عکس العمل هم ښکاره نه کړاو شامي مسلمانان يې داسدي؛ايراني او روسي ليوانو خولو ته پرېښودل.

څوک چې دا وايې چې په شام کې امريکا دروسې په مقابل کې شکست وخوړ او روسيه برلاسې شوه دادحقيقت نه ډېره لرې خبره ده؛په دې دواړو کې يو هم شکست خوړونکی او بل برلاسی ندی بلکه دا ددواړو شريک پروګرام دی او په شريکه به يې پرمخ بيايې.

لکه څنګه چې روسې او ايران په ۲۰۱٦م کال کې شرقي حلب لوتې لوتې کړ اودحلب دټولو اوسېدونکودوژلواو ويستلونه پس يې په کنډوالو دبشارالاسد ددولت دفتحې بيرغونه ودرول داسې ښکاري چې اوس په ادلب کې هم هماغه کړنه تکرارول غواړي نوځکه دوژل شويواوټپيانوشويو مېرمنو او کوچنيانودردونکي خپاره شويو عکسونودمسکاو او تهران په زړونوکې رحم رانه وستلواونه يې ددوئ ارادې بدلې کړې .

روسيه او ايران ددې سيمې دمحاصره شويو انسانانو پرضد دظلم او وحشت ودرولو او ددې سيمې د اوسېدونکو سره دبشري مرستو طرفدار ا ن نه دي او غواړي چې دبشارالاسد او روسې هوايې فوځونه ترهغې دا ټوله سيمه بمبار کړي چې ترڅو پکې ددولت يو مخالف هم ژوندی پاتې نه شي ،که څه هم دادلب ټول عام خلک پدې کې خپل ژوند له لاسه ورکړي اودامريکا په شمول ټول غرب هم دروسې اوايران سره پدې هکله کوم مخالفت نه لري خوپدې شرط چې مادي ګټې يې خوندي وي .

پدې کې کوم ابهام اوس ندی پاتې چې دنړۍ ټول کفري ځواکونه دمسلمانانو پرضد متحد دي اوپه اسلام دښمنۍ کې يو دبل مرسته کوي.

روسيه ده کې امريکا ده،کې فرانسه،المان او برتانيه ده ټولو دخپلو مادي ګټو او نورو شومو اهدافو دحصول په موخه دمسلمانانو مختلفې سيمې دجنګ په ډګر بدلې کړيدي؛په ښکاره دوئ يود بل خلاف ښکاري خو په حقيقت کې ټول داسلام او مسلمانانو سره په دښمنۍ کې متفق دي او دټولو هدف يودی يانې اسلام او مسلمانانو ته ښه ډېر تاوانونه رسول او پروسايلو يې قابض کېدل؛دوئ په ښکاره ديوبل ظلمونه غندي خو دپردې ترشا دمسلمانانو سيمې په خپلو منځونو کې ويشي-؛يوبل ته لار ورکوي او دمسلمانانو په مقابل کې دشکست پرمهال يودبل

مرستې کوي ؛ آیا امریکا او ټوله غربي نړۍ دومره بې وسه ده چې په شام کې دروسې او بشار دروان وحشت مخه نه شي نیولی؟

آیا دملګرو ملتونو اداره او دامنیت شوری دومره کمزورې ده چې پر ادلب دبشارالاسد او روسې وحشي فوځونو نه دبمبار ودرولو غوښتنه وکړي او دا غوښتنه يې ونه منل شي؟

او خبره خو څه ننۍ او یواځې د ادلب نده بلکې د ۲۰۱۱ م نه تر ننه په شام کې دحلب ،شرقي غوطې اوادلب په څېر دسني مسلمانانو سونو کلي؛بنارونه او بازارونه دبشارالاسد دخونخوارو ملېشو؛دایران دپاسداران انقلاب او دلبنان حزب الله او دروسې دوحشي فوځونو دوحشت ښکارشویدي؛پخپله دملګرو ملتونو اداره وایې چې په ۲۰۱۱ م کې پیل شوي جنګ کې دوژل شویو شامیانو شمېر نېږدې ۵ سوه زرو ته رسېږي.

نیم شام په کنډوالو بدل شو؛کابو ۸ ملیونه انسانان دخپلو کورونو پرېښودلو ته اړ شول؛دلته دبشارالاسد له لورې کیاوي وسلې وکارول شوې او کارول کېږي او دشامیانو دوژلو لپاره روسانو ایران او دحزب الله لبناني ملېشو اوپه لسګونو نوروشیعه ډلو اشر جوړ کړ؛نړۍ یې ایله ننداره وکړه او ددې وحشت د مخنیوي لپاره یې هیڅ مؤثر قدم پورته نکړ.

هیڅوک داسې نشته چې دامریکا او ناټو نه وپوښتي چې دصدام حسین په لاس دځوکردانو دوژل کېدو له امله که صدام دادارې رنګول اړین و او د قذافي په حکم که دځو مخالفینو دوژل کېدلو له امله په لیبیا یرغل او دقذافي ددولت رنګول اړین و نو ددې دومره ستر قتل عام له امله دبشارالاسد پرضد ولې کوم اقدام نه کېږي او ولې دلته ددې ستر وحشت مخنیوي اړین نه ګڼل کېږي؟

زما هدف دا ندی چې دبشارالاسد پرضد دامریکا او ناټو اقدام دشام ددرد دوا ده بلکې هدف دامریکا او نورلویدیځ دستر منافقت یادونه ده چې پرلیبیا او عراق یرغل کولو کې یې ستر اهداف پوره کېدل نو دیرغل لپاره یې هغه څه پلمه کړل چې ددوئ سره یې هیڅ تړاو نه و او چې دلته یې دبشارالاسد له لورې په روان وحشت کې اهداف پوره کېږي نو پدې ستر وحشت یې سترګې پټې کړیدی او عملاً یې تائید وي.

ملا برادر

د جهادي دیپلوماسي نوښتګره څېره

شاهد غزنیوال

د اسلامي امارت د سیاسي مرستیال او د سیاسي کمیسیون د مشر ـ په توګه د محترم ملا عبدالغني (برادر) تر ټاکنې وروسته د اسلامي امارت د ډیپلوماتیک فعالیتونه تر پخوا ډیر ګړندي شول.

د دغو فعالیتونو له جملې څخه د قطر په دفترکې د ملګرو ملتونو له لوړ پوړو استازیو، د اروپایي اتحاد له ځانګړي نماینده، د المان له خاص استازي د اندونیزیا، ازبکستان او نورو هیوادونو له دیپلوماتیکو چارواکو سره لیدنې کتنې او د هغو په ترڅ کې د افغان لانجې په اړه یو لړ تصمیمونه شامل دي.

همدا راز د روان میلادي کال د می د میاشتې په اته ویشتمه نېټه د روسیې په پلازمینې مسکو کې د افغانستان او روسیې ترمنځ د سل کلنو دیپلوماتیکو اړیکو او تر هغه وروسته له افغان سیاست والو سره د بین الافغاني تفاهم په غونډه کې فعال ګډون او د هیواد د سیاسي جریانونو له مشرانو سره د افغان قضیې په اړه مثبت بحث هغه څه دي چې د ملا برادر اخوند جهادي او سیاسي مهارت تري ښه څرګندیږي.

سره له دې چې د نوموړي ټول ژوند په پوځي او نظامي فعالیتونو کې تیرشوی، خو له نړیوالو سیاسي شخصیتونو سره یې په سیاسي غونډو کې مثبت

دیپلـو ماتیـک تعامـل هغـوی ټـول د نومـوړي پـه جامعیت او معقولیت معترف کړي دي.

د محترم ملا بـرادر اخونـد د دغـه معـترف بـه رول یو اساسي لامل د نوموړي جهادي مخینه ده چې د هیواد د دریـو سـیاسي مراحلـو (پخـوانۍ جهـادي مرحله، د امـارت د حاکمیـت مرحلـه او د امریکـایي اشغال په مهال د مقاومت مرحله) کـافي تجربـې لـه ځانه سره لري.

پر دې سربیره د امارت د مشر تابه په کچه لوړ صلاحیت او په سیاسي فعالیتونو کې د تصمیم نیولو پوره واک بله هغه مشخصه ده چې نوموړي ته یې پـه ډیر کم وخت کې ښه سیاسي شهرت ور وبښه.

په مذاکراتي بهیـر کـې لـه امریکـایي اسـتازي زلمي خلیلزاد سره د ملا برادر اخوند ایجـابي تعامـل نوموړی دیته اړیستلی چې پـه امـارتي صـف کـې د فعالي دیپلوماسي په شـتون اعـتراف وکـړي او هغـه وستایي.

د محـتـرم مـلا بـرادر اخونـد د دیپلوماتیـک فعالیت یوه ترټولو ځـانګړې مشخصـه دا ده چـې پـر خپلو جهادي مواقفو له ټینګـار سره سره یـې نړیـوال دیپلو ماتان له امارت سره سـیاسي راشـه درشـې تـه اړیستلي دي.

همدا راز نوموړی د سیاسي مسؤل پـه توګـه د نظامي مجاهدینو له طبیعت او مزاج سره ښه بلدیت لـري او کـولای شي خپـل دیپلوماتیـک فعالیـت د جهـادي جبهـاتو لـه ذوق او سـلیقې سره سـم عیـار کړي.

یو ښه فرصت

د سـیاسي دفـتر پـه مشرۍ کـې د مـلا بـرادر غونـدي باصـلاحیته او د مثبـت تجـاوب لرونکـي شخص موجودیـت د نړیوالـو پـه تیـره د امریکایـانو لپاره هم یو ډیر ښه فرصت دی.

که امریکایي لوری ریښتیاهم مذاکراتي جدیت ولري په راتلونکي اووم مذاکراتي پړاو کې له محـترم مـلا بـرادر اخونـد سره د هغـو پـه مطـرح کولـو سره کیدای شي تر ډیره عملي پرمختګ وشي.

ځکه اسلامي امارت مذاکراتي پروسي ته د یـوه مهم جریان په سترګه ګوري او د همدې اهمیـت لـه وجې یې د هغـې د پـر مـخ وړلـو لپـاره د مـلا بـرادر غوندي مهم او باصلاحیته مسؤل تعین کړ.

داسې مسؤل چې هم د مجاهدینو په مـنځ کـې له ښه نظامي، جهادي او ټولنیز نفـوذه بـرخمن دی، هم له سیاسي نزاکتونو سره بلـد دی او هـم لـه پـوره تنفیذي صلاحیت نه برخمن دی.

خـدای تعـالی دي ورتـه پـه خپلـو سـیاسي او جهادي فعالیتونو کې مزید توفیق ور نصیب کړي.

دا اسلام غزوات او سرايا

دمکې مکرمې عظيم الشانه فتح

□ په تير پسې
□ ابوظهير

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله دطواف نه فارغ شود صفا غره ته لاړ او هلته يې تر ډيره وخته د بيت الله په لور مخ کړی و په دعا او حمدوثنا ويلوکې مشغول و، په مخ کې يې دانصارو مجمع ناسته وه، دې وخت کې دغينو انصارو له خولو ووتل:

الله تعالی درسول الله ښار او خاوره فتحه کړه! هسې نه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مکه کې پاتې شي او بيرته مدينې ته لاړنشي.

خپل منځ کې هغوی په دې موضوع غږيدل، په رسول الله مبارک دوحې راتلو اثارښکاره شول ، دصحابه وو عادت داو چې دوحې دنزول په وخت هغوی د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لور سترګې نه پورته کولې : کله چې وحې نازله شوه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

اې دانصاروډلې! تاسوداسې وويل ؟

هغوی عرض وکړ:هو! يار سول الله ! رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

پوی شئ داهيڅکله نشي کيدای ، زه دالله تعالی بنده ، او دهغه رسول يم، ما دالله تعالی په حکم باندې هجرت کړی دی ستاسې ژوند زما ژوند دی اوستاسې مرګ زما مرګ دی.

ددې په اوريدو سره دانصارو دسترګونه اوښکې روانې شوې او هغوی عرض وکړ:

دالله رسوله! مورِ سره اندېښنه پيدا شوې وه چې مورِ دکومې شمعې پتنګان يو ، هسې نه هغه زمورِ د محفل نه پورته شي، مورِ خادمان، غلامان او وفا شعار بل هرقسم قربانی تياريو خو د الله تعالی درسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په باره کې انتهائي بخيلان يو.

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: الله تعالی او دهغه رسول تاسو معذور ګڼي(رواه مسلم واحمد وغيرهما عن ابي هريرة)

دنارینه وو او میرمنو سره بیعت:

دعـاء نـه دفارغبـدو وروسـته رسـول اللـه ﷺ په صفا غره کیناسته ،خلک دبیعت کولو لپاره ور ټول شول، رسول الله ﷺ دالله تعالی او دهغه درسول په اطاعت کولو باندې بیعت اخسته، نارینه وو څخه یې یواځي په اسلام، او پخپل حسب استطاعت سره دالله او دهغه درسول په اطاعت بیعت اخیست، په ځینو روایتونوکې دي چې دنارینه وو څخه یې په اسلام اوجهاد بیعت و اخیست، کله چې دنارینه وو سره دبیعت کولو نه فارغ شو له میرمنوڅخه یې بیعت اخیستل شروع کړ، دمیرمنوڅخه یې په هغو کارونو بیعت اخیست چې په بیعت النساء کې راغلي: یعنې:

رسول الله ﷺ به چې دمیرمنوسره بیعت کاوه، هغه محض په ژبه وه، درسول الله ﷺ مبارک لاس کله هم په کومه نامحرمه میرمن ندی لګیدلی او نه کومې میرمنې سره رسول الله ﷺ مصافحه کړې بلکې په لاس کې د رخت په نیولو سره به یې دهغوی سره داسې بیعت کاوه چې یوسربه درخت رسول الله مبارک ونیو په بل به میرمنې لاسونه ایښي وو.

اوکله به یې داسې کول چې دمیرمنو څخه به یې بیعت اخیست په یو لوښې کې به یې اوبه وغوښتې او په هغوکې به یې خپل مبار لاس ښکته کړ او ترې وبه یې ایست بیا به یې میرمنوته حکم وکړ،چې لاسونه په هغه لوښې کې ښکته کړې نو میرمنو به په هغه کې لاسونه ښکته کول اوپه دې توګه به بیعت مکمل شو.

ابن الاثیر جزري وایي: کله چې رسول الله ﷺ دنارینه وو دبیعت نه وزګارشو نو میرمنوته متوجه شو دقریشو کومې میرمنې چې دغه مهال دبیعت لپاره حاضرې شوې وي په هغو کې داڅونومونه دیادولو وړدي

۱ – ام هاني یعنې دحضرت علي رض خور

۲ – ام حبیبه دعاص بن امیه لور او دعمروبن عبدو عامري

۳ –اروی دابی العیص یعنې دعتاب بن ا اسید ترور

۴ – عاتکه دابي العیص یعنې داروي خور ،

۵- هنده دعتسبه لور، دابوسفیان میرمن او دامیر معاویه مور....

هنده چې کله دبیعت لپاره حاضره شوه نومخ یې پټ کړی و، داچې هندې دحضرت امیر حمزه رض سینه ځیرلې وه او دهغه وینه یې زبیښلې وه دحیا او پښیمانتیا په وجه یې مخ پټ کړی و بیعت یې وکړ، څو ونه پیژندل شي، د هغې دبیعت قیصه په لاندې ډول ده:

هنده: یارسول الله ! ته له مورِ څخه دکوم څه عهد اومیثاق اخلي؟

رسول الله: دخدای سره دبل چا دنه شریکولو

هنده: یارسول الله !ته له مورِ څخه دهغه خبرو عهد اخلي چې کومې تا دنارینه وو څخه ندي اخستي، خو مورِ ته منظوردي

رسول الله! او بل غلامه کوئ

هنده: زه دخپل خاوند(ابوسفیان) دمال نه یوشه اخلم ایا دا هم په غلاکې راځي که نه؟ ابوسفیان چې دغه مهال موجود و، ابوسفیان وویل چې کوم تیر شول هغه معاف شول

رسول الله ! وفرمایل: دضرورت په قدر دخاوند دمال نه یې اخیستلی شي چې په عرف او دستورکې ستا او ستا داولادونو دارتیاوو پوره کیدوته بس کیدا ی شي

رسول الله: زنا مه کوئ!

هنده: ایا یوه شریفه مرمن زنا کولی شي؟

رسول الله: اودلادونه مه قتلوئ

هنده: رَبَینَاهُم صِغَاراً وَ قَتَلتَهُم یومَ بَدرٍ کِبَاراً فَأَنتَ وَهُم أعلم.

ژ: مورِ هغوی په کوچنیوالي کې وروزل،اوپه جنګ بدرکې تا قتل کړل، پس ته اوهغوی پوی شه

حضرت عمررض ددې په اوریدو مسکی شو

رسول الله : اوپه چابهتان مه لګوئ

هنده: وَاللهِ اِنَّ البُهتَانَ لَقَبِیحٌ وَمَاتامُرونَا اِلابالرُشدِ وَمَکَارِم الاخلاق

ژ: په خدای سوګند بهتان لګول ډیربدکاردی اوته مورِ ته پرته درشد او هدایت او مکارم اخلاق نه دبل څه ښودنه نه کوي.

رسول الله ص حضرت عمررض ته وفرمایل ددینه بیعت واخله او دبیعت وروسته رسول الله دهغې لپاره دمغفرت دعا وکړه (الکامل لابن الاثیر۲توک۹۶مخ)

هنده داسلام راوړو نه وروسته عرض وکړ چې:

یارسول الله! داسلام نه وړاندې ستا دمخ نه مبغوض مخ ما ته بل نه و او ستانه زیاته دښمنې مې دبل چاسره نه وه او اوس ستا نه زیات محبوب مخ بل ماته نشته.

رسول الله ص وفرمایل: اوس به په دي محبت کې نورهم زیاتوالی راشي.

دوهمه خطبه:

دابن اسحاق په روایت کې دي چې دمکې دفتح په دوهمه ورځ یو خزاعی پورته شو ، یوهذیلي مشرک یې قتل کړ.کله چې رسول الله خبرشو نو صحابه یې جمع کړل او په صفا غره ودریدو وي فرمایل:

یاایهالناس اِنَّ الله حَرَّم مکة یَومَ خَلَقَ السَّمواتِ والارض فَهِی حَرامٌ الی یوم القِیَامة فَلایَحِلُّ لامرئٍ یُؤمِنُ باللّه والیوم الاخرأن یّسفِکَ فیهادَماً ولاَ یَعضَدفِیهاشجراً ولَم تَحِلل لاحد یکونُ بَعدی ولَم تحلل لِی اِلاَّهذه الساعة غَضباً عَلی اهلِها آلاثُمَّ قَدرَجعت کَحُرمَتِهَا بالامسِ فَلیُبلِغ الشَّاهِد مِنکم الغائب، فَمن قَال لکُم انّ رسول الله قَاتل فیها فَقُولوا انَّ الله قَد اَحلّهالِرسوله ولَم یُحللهَا لَکُم یامعشرَ خُزاعة اِرفعُوا یَدیَکم عَنِ القَتلِ فَلقد کَثُرُ القتلُ لَقَدقَتَلتُم قتیلاً فَمَن قَتل بَعدَ مَقَامی هذا فاَهلهُ بِخیرِ النّظرین اِن شاؤو قَدَم قَاتلِه وَانشاءُ وافَعَقلهُ

ژ: اې خلکو! بیشکه الله تعالی چې په کومه ورځ اسمانونه اوزمکې پیداکړې په هم هغه ورځ یې مکه حرم او محترمه پیداکړپس ترقیامت پورې به حرم او محترمه وې نو دهرهغه شخص لپاره چې هغه په الله ورځ دقیامت باندې ایمان ولري جایزنده چې هغه دي په مکه کې وینه وبهوي، او نه دچا لپاره دیوچا دونې قطع کول جایزدي ، مکه نه ما نه وړاندې دچا لپاره حلاله وه اونه زما نه بعد به حلاله وې، ما لپاره هم یواځي دهمدې ساعت او دهمدې شیبې لپاره حلاله ګرځول شوې وه چې دمکې دخلکو دنافرمانۍ اوناراضایت په وجه اوخبرشئ! چې ددې حرمت به داسې وې لکه پرون چې و، پس له تاسونه چې څوک حاضردي هغوی دي زما داپیغام هغوی ته ورسوي چې غایب دي، پس تاسوته چې کوم شخص دا ووایي چې رسول الله په مکه کې قتال وکړ، تاسو ورته ووياست چې بیشکه الله تعالی دخپل رسول لپاره دځه وخت لپاره په مکه کې حلال کړی و، او تاسو لپاره حلال ندی، اې دخزاعه قبیلې! دقتل نه خپل لاسونه پورته کړئ تاسو یوتن وژلی دی چې دهغه دیت زه ورکوم، کوم شخص چې ددې وروسته قتل وکړې نو دمتقول وارثان به په دوه خبرو کې یوه غوره کوي چې دوینې په بدل کې به دقاتل وینه اخلي او یا به دمقتول نه دیت اخلي

دهغه وروسته رسول الله له خپل ځانه سل اوښان هغه شخص ته په دیت کې ورکړل کوم چې خزاعي قتل کړی و(ابن هشام سیرة ۵۸مخ ۴ټوک)

نوربیا...

ښه او بده خاتمه، دوه کسان څنګه مړه شول...!؟

موسی فرهاد

«إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ- - الحديث»

موږ او تاسو همیشه په جوماتونو او نورو مقاماتو کې له علماء کرامو څخه دا وعظ او نصیحت اورو چې راته وایی، د خپلې ښې خاتمې لپاره له الله تعالی څخه دعا، او له بدي خاتمې څخه پناه غواړئ.

علماء وایی چې د ښه او بدي خاتمي حقیقت بیا هم یوازي الله تعالی ته معلوم وي، خو نښي نښاني یې کتابونو ډېري ذکر کړي، د بیلګې په توګه به یې د هري یوې لپاره یو تعریف او یوه عملي نمونه درته ذکر کړو:

علماء کرام وایی، د یوچا د ښې خاتمې نښه دا ده چې «الموت أثناء القيام بعمل من الأعمال الصالحة التي ترضي الله»

یعني یو انسان ته که په داسي حال کې مرګ راشي چې هغه په یو نیک عمل باندي مصروف وي، نو دا یې د نیکمرغۍ او حسنِ خاتمي نښه ده،

او د بدي خاتمې علامه یې دا ده چې: «عدول العبد عن فعل الأعمال الصالحة وإصراره على فعل المعاصي وارتكاب الذنوب والآثام»

او که چیری دا بنده په داسي عمل مصروف وي چې هغه د معصیت او ګناه عمل وي، د الله تعالی د نارضایت سبب وي، او ده ته مرګ راشي نو دا یې د بدبختۍ او سوء خاتمې نښه ده.

اوس موږ د دې لپاره د دوو داسي کسانو یادونه کوو چې هغوی ته په څنګه حالت کې مرګ راغلی، رښتیا هم چې د عبرت او پند اخیستلو وړ بیلګي دی.

تېر کال په همدغه میاشت کې دوه کسان په داسي مړینه مړه شول:

۱ - لومړی یو نا مسلمان امریکایي سندرغاړی و چې د سندرو ویلو پرمهال د ستیج پرسر راپریوت او ومړ.

بروس همپټون د امریکا د اتلانتیا ښار اوسیدونکی و، نوموړی د څو سندریزو ډلو بنسټګر و، خپل ټول اویا کلن عمر یې په داسي حال کې ورباندې تیر شو چې د نامسلمانۍ برسیره یې ژوند د راک موسیقي غږولو، ډمتوب او لهو لعب کې صرف کړ.

امریکایی رسنیو یې د نورو ستاینو ترڅنګ د بدني جوړښت، صحت او خوښ ژوند ډېري پرپرې کتار کړي، مګر د خپل ژوند وروستۍ شیبه په داسي حال کې ورباندې راغله چې نه یې له کفره وتل او اسلام ته داخلیدل نصیب شو او نه یې، په خپل ټول عمر کې د لهو لعب ژوند ده ته د دې موقع ورکړه چې د خپل معنوي اړخ او خپل اخروي ژوند په اړه فکر وکړي. بالاخره په داسي حال کې چې د خپلې اویایمې کلیزې په ویاړ یې په جوړو شویو مراسمو کې پخپله سندري ویلې؛ د اتلانتیا ښار په فاکس نومي سالون کې مایکروفون په لاس؛ پر ځمکه را پرېوت او ومړ.

د تعجب ځای دا وو چې وای، نوموړی که څه هم پرځمکه ولوېد او په همغه شیبه کې د مرګ په خوب ویده شو؛ خو سندریزې ډلې یې بیا هم د څه وخت لپاره موسیقي غږولو ته دوام ورکړ. یعني خپل پروګرام یې د ده د مړینې د کشمکش په خاطرخراب نکړ.

څو شېبې وروسته عمله راغله او د راک موسیقۍ د دې بدمرغه انسان مړی یې اوچت کړ. بدمرغه له دې امله چې نه یې پخپل ژوند کې اسلام نصیب شو او نه یې د کفر په ژوند کې هم له لهوولعب دومره ځان وزګار کړلای شو چې د خپل ژوند ارمان له خپلو پاتي شونو سره شریک کړای شي. دې ته وایی د یو بدمرغه انسان د سوء (بدي) خاتمي ستره نښه. اعاذنا الله

۲ - دویم د یو اندونیزیایی مسلمان حافظِ قرآن د مړینې جالبه پېښه وه، دا اندونیزیایی قاري شیخ جعفرعبدالرحمن نومیده، تېر کال په همدې میاشت کې په داسي حال کې وفات شو چې د حسنِ قرآت د مقابلې پر مهال یې د ستېج پرسر د قرآنکریم د الملک مبارک سورة تلاوت کاوه، کله چې یې قرأت پیل کړ او د دې آیة « الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ» نیمایي ته چې رسیده؛ میکرفون یې له لاسه وغورځید او نومورې پرځمکه راپریوت، پر تلویزن د عیني شاهدانو له قوله چې نوموړي له راپریوتو سره سم د توحید او شهادت کلیمې یو په بل پسي په دهیمي آواز ویلي چې روح یې خپل خالق ته وسپاره.

ښایی دې ته ورته پېښې په سلګونو، بلکې په زرګونو نوري هم رامنځ ته شوي وي، اما دا پورتنۍ دواړي عجیبي او غریبي بیلګې؛ مورِ او تاسو ته راښیي چې د انسانانو ښه او بدي خاتمې که څه هم د الله تعالی په قدرت کې دي، خو د نیکمرغۍ او بدمرغۍ څرک یې بیا هم له ورایه څرګندیدای شي. الله تعالی دې مورِ ته له هغسي کړنو نجات راکړي چې د بدي خاتمي سبب جوړیږي او دا داسي اعمالو توفیق دې رانصیب کړي چې د حسنِ خاتمې دلیل او لامل ګرځي.

رَبَّنَااختِمْ لَنَا بِالخَيرِوَالسَّعَادَةِ

پای.....!

د نرخ ولسوالۍ فاتح شهید

مولوي محمد بشیر زاهد تقبله الله

دنـرخ فـاتح شـهید مولـوي محمدبشـیر زاهددسـلطان جـان زوی دمیدان وردګو ولایت دنـرخ ولسوالۍ دتوکرک کلي داچه خیلو په کلي کې په کال ۱۳۵۹هـ ق کې دې فاني نړۍ ته سترګې وغړولې.

شهید مولـوي محمـد بشـیر زاهد تقبله الله دژوند په لومړنیـو شیبوکې په عصري زده کـړو پیـل وکړ ، چې ترنهم ټولګي پـورې یـې عصري زده کړې ورسولې بیایې له دې وروسته ددیني علومو پـه زده کـړې تـه مخـه کـړه . ابتـدائې درسونه یې دخپل کلي له ملاامام اوشـاوخوا نـزدې مدارسـو کـې ترسره کړې،بیایې له دې وروسـته پاکسـتان تـه لاړاوهلتـه یـي پـه مختلفو دیني مدارسوکې دودیـز فنون ولوستل.

دلـویې دورې او د احـادیثو دزده کـــړې لپـــاره دپیښـــور د صدرپه جامعه امداد العلـوم کـې داخله وکړه او دشهید شیخ القرآن والحدیث مولانا محمدحَسن جان "مدني"پـه مبـارکو لاسـونو یـي دفضـیلت پګـړۍ وترلـه او دیـو نومیالي عـالم پـه توګـه راخرګنـد شو.

شهید مولـوی محمـد بشـیر زاهد ته الله پاک قوي ذهن اولـوړ استعداد ورپه برخه کړی ؤ،دقوي ذهن اولوړوافکاروخاونـدؤ،دخپلو همزولـو تـرمینځ یـي پـه ذکـاوت اوفطانـت کـې شـهرت لاره . کلـه چـې پـه افغانسـتان صـلیبی اشغالګرو یرغـل وکـړ اوداسـلامی امـارت مجاهـدینویی پـه ضـد وسلواله مبارزه پیل کړه، نوشـهید مولوي محمـد بشـیر زاهـد تقبلـه الله هم ددیني علومو ترڅنـګ پـه هیـوادکې دمتجـاوزو اشـغالګرو اودهغوي دګوډاګیانو دوحشـتونو

په وړاندې په مسلحانه جهاد پیل وکړ اوداسلامي امارت په سپیڅلي صف کې یې د مولوي محب الله مخلص په دلګۍ کې خپل جهادي خدمت پیل کړ.

مولوي محمدبشیر زاهد تقبله الله ته الله تعالی ښکلي نبوي اخلاق، قوي عزم، کلک هوډ اوښه استعداد په برخه کړی ؤ.

مولوي محمدبشیر زاهد تقبله الله دجهاد په دورکې به تل په هر سنګرکې دښمان مرصوص په شکل جنګیده اوتل یې ددین او وطن دښمنانو ته دسر په کاسه کې اوبه ورکولې اشغالګر او ددوی غلامان به یې دارام ساه اخیستلو ته نه پریښودل.

مولوي محمدبشیر زاهد تقبله الله په خپل ژوند کې دغیرت اوشهامت ډیرې کارنامې ترسره کړي دي،چې بیلګې یې دادي:

مولوي محمد بشیر زاهد تقبله الله دامریکایي اشغالګرو یو زغره وال ټانګ دمیدان وردګ ولایت دنرخ ولسوالۍ دتوکرک کلي په اچه خیلو کلي کې منفجر کړ، چې پکې ناست ټول صلیبي یرغلګر یې دجهنم کندې ته ورګوزارکړل.

په دغه ټانګ کې دامریکایي مهمو جنرالانو له ډلې یوهغه جنرال هم موجود ؤ،چې دعراق دمظلومو مسلمانانو په وینو یې لاسونه سره وو اوپه عراق کې یې دقهرمانۍ میډال هم ترلاسه کړی وو؛ لوی خدای داتل غازي شهید محمد بشیرزاهدپه لاس مرادر کړ. دایو موثق خبروو ،چې په هغه وخت کې سپینه مانۍ هم پرې وغړیدله. مولوي محمدبشیر زاهد تقبله الله له دې وروسته دزیاتې ځیرکتیا له کبله د مولوی محب الله مخلص ددلګۍ دنائب په توګه خپل جهادی خدمت کاوه.

مولوی محمدبشیر زاهد تقبله الله ددې مسؤلیت په وخت نه هیریدونکي خدمتونه ترسره کړل اوله ملګروسره به دجنګ په لومړۍ کرښه کې ددښمن په مقابل کې ولاړ ؤ او همدارنګه دنرخ ولسوالۍ ظالمو ، وحشي او دپردیو په لاس روزل شویوغلامانو ته یې دتل لپاره درس ورکړ. داچې مولوي محمد بشیر زاهد دعلم اوغیرت دنګ منارؤ، ددې ترڅنګ الله تعالی په پوره لوړو اخلاقو او نیکواوصافومشرف کړی ؤ.تقوا اودیانت یې درلوده .چې کومې خواته به یې مخه کړه نوالله به بریالی اوتوریالی راستون کړ.

نوموړی دمشرتابه له حکم سره سم دمیدان وردګ ولایت دنرخ ولسوالۍ دنظامي مسؤل په توګه وګمارل شو، چې دخپل مسؤلیت سره سم یې دمظلوم ولس په انتقام لاس پورې کړ او له هرطرفه یې په وحشي اربکیانو تندریز بریدونه پیل کړل . په لږ وخت کې یې دنرخ ولسوالۍ له دغومنحوسوځیرو خالي کړه او ددوی ځالې یې رنګې کړې.له دې سره سم اتل شهیدمولوی محمدبشیرزاهدته دنرخ ولسوالۍ دفاتح لقب ورکړل شو . بیایی دهغو ولسي وګړو چې په

تیروکلونو کې د وحشي اربکیانو لخوا زیات کړیدلي ؤ، په سر دترحم لاس ونیو او دهغوی په زړونویي دشفقت اومهربانۍ پتې کیښوده.

دوه کاله یې په همدې ولسوالۍ کې خپله وظیفه په ښه توګه ترسره کړه اوولس ته یې نه هیرودنکي خدمتونه وکړل. مولوی محمد بشیر زاهد یواځې پخپله ولسوالۍ کې نه، بلکه په ګرد ولایت کې یو نوم اوحیثیت درلود.مجاهدینو به دیوه مسئول اومشر په سترګه ورته کتل. کله چې مشرانو ته دده استعداد او قوي عزم لاښه څرګندشو، نو دنرخ ولسوالۍ نه یې دمیدان وردګ ولایت دمرکز ، چې دنومورې ولایت مهم ځای ؤ، دنظامي مسؤل په توګه وټاکه. هلته یې هم دتیر په څېر ددښمن په ضدعملیات پیل کړل اودمرکز زیاتې ساحې یې فتحه اوسپین محمدي بیرغ یې پرې رپاندکړ.

د نومورې د مسئولیت په وخت کې دمیدان وردګ ولایت په مرکز کې په دښمن دمحاصرې حلقه دومره تنګه شوه، چې دمغرورو ګوډاګیانو چغې تر واشنګټن پورې ورسیدې او همدارنګه دیو اتلوال برید په نتیجه کې نزدې ؤ چې بشپړ ولایت فتحه شي.

مولوي محمدبشیر زاهد تقبله الله ددین او وطن د دښمنانو په وړاندې دزهرو په څېر تریخ او مسلمان ولس او مجاهدینو په مخ کې دنرم زړه خاوند ؤ. تل به یې په مبارکو شونډو مُسکاخوره وه، هرچا کوښښ کاوه چې د مولوي صاحب سره رابطه جوړه کړې حتی دګوډاګی ادارې منسوبینو اومسئولینو هم کوښښ کاوه چې په یوه طریقه له مولوی صاحب سره اړیکه پیدا کړي .دښو اخلاقو خاوندؤ،هرچا به چې ولیده نودافکر به یې کاوه چې له ما سره به یې تر بل هرچا زیات تعلق اومینه وي.

شهادت: اتل شهیدمولوی محمدبشیرزاهدبه هروخت دخپلو همسنګرو سره څنګ په څنګ دحق په سنګرکې جنګیده، هماغه ؤچې بالاخره د۱۳۹۶/۱/ ۲۰تاریخ دیکشنبې په ورځ د۳۷ کلونو په عمر دمیدان وردګو ولایت دنرخ ولسوالئ دحاجی مصلی بابا په بازار کې دامریکایی ډرون طیارې په وحشیانه برید کې دشهادت لوړمقام ته ورسید

نحسبه کذالک والله

حسیبهم

یاد دې تل اولاره دې له

لارویانو ډکه وي

جنګي جنایتونه (مۍ)

سید سعید

د ۲۰۱۹ز، کال دمۍ دمیاشتې په لومړۍ (۱) نیټه د فاریاب ولایت د ګرزیوان ولسوالۍ مرکز کې د داخلي عسکرو په ډزو کې یوه میرمن شهیده شوې ده.

دمۍ په ۱مه د میدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ باقرخیلو ته نژدې شش کلا کې دحکومتي عسکرو دهاوان په ډزوکې یوه میرمن او دوې نجونې شهیدانې شوې او اووه تنه ماشومان او ښځې ټپیان شوي دي.

دمۍ په ۲مه د غزني ولایت د ده یک ولسوالې په نیاز کلا اوسرأنداز کلا باندې یرغلګرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې، یوولس تنه ملکي هیوادوال یې شهیدان کړي او دخلکو له کورونو یې قیمتي توکي او پیسې وړي دي.

دمۍ په ۴مه د سرپل ولایت د سنګچارک ولسوالۍ د لنګربابا قوزي په سیمه کې دکورنیو عسکرو په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

دمۍ په ۵مه د فراه ولایت دبکوا ولسوالۍ داشکین، پلوشي او سپین کاریز او د نیمروز ولایت ددلارام ولسوالۍ د شاګیو او دوراهي سیمو کې یرغلګرو بمبار کړی، په دغه بمبارکې اتیا (۸۰) تنه ولسي- هیوادوال د ښځو او ماشومانو په شمول شهیدان او ټپیان شوي او خلکو ته خورا ډیر مالي زیانونه رسیدلي دي.

دمئ په ۵مه دلوګر ولايتي شورای خبر ورکړ چې يرغلګرو دهمدې ولايت د محمد اغې ولسوالۍ په پادخواب سيمه کې شپږ تنه ملکي وګړي شهيدان کړي دي.

دمئ په ۵مه د زابل ولايت د خاک افغان ولسوالۍ د ځنګلي په سيمه کې دطالبانو او اربکيانو ترمنځ تر نښتې وروسته داربکيانو له لوري څلور تنه ملکي وګړي شهيدان او ګڼ نور بنديان شوي دي.

د مئ په ٦مه دهلمند ولايت د مارجې ولسوالۍ د قاسم بازار په سيمه کې ديرغلګرو او داخلي عسکرو په ګډه چاپه کې دوه تنه ملکي هيوادوال شهيدان شوي دي.

د مئ په ۸مه د فارياب ولايت د جمعه بازار ولسوالۍ د دښت بز په سيمه کې ديرغلګرو په ډرون حمله کې دوې ميرمنې او درې ماشومان شهيدان شوي دي.

دمئ په ۸مه د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالۍ په شيخ کلا سيمه کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال څلور تنه ښوونکي او دوه محصلين شهيدان کړي او ګڼ کورونه يې تخريب کړي دي.

د مئ په ۹مه دهلمند دسنګين ولسوالۍ د مالمند په سيمه کې اشغالګرو او داخلي کمانډويانو چاپه وهلې، دخلکو کورونه يې تلاشي کړي، ۲۵دوکانونه او ۲ دتيلو پمپونه يې سوځولي دي.

دمئ په ۹مه د هلمند ولايت دګرشک ولسوالۍ د آب پاشک مانده په سيمه کې ديرغلګرو په ډرون بريدکې دوه تنه کليوال شهيدان شوي دي.

د مئ۱۱مه د پکتيکا ولايت دبرمل ولسوالۍ لمن بازار ته څيرمه يرغلګرو دملکي وګړو دسپرلۍ پر موټر ډرون حمله کړې، چې له امله يې په موټر کې سپاره پنځلس تنه ولسي هيوادوال شهيدان شوي دي.

د مئ په ۱۱مه د بغلان ولايت دپلخمري ولسوالۍ په خروټو کلي کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال يو ډاکټر او يو زده کونکی شهيدان کړي او خلکو ته يې مالي تاوانونه رسولي دي.

دمئ په ۱۱مه د غزني ولايت د شلګر ولسوالۍ په دليل اوخاني کليو باندی ديرغلګرو او داخلي عسکرو په چاپه کې شپږ تنه ملکي وګړي شهيدان شوي دي.

دمئ په ۱۳مه ګډوځواکونو د ميدان وردګو ولايت ددايمرداد ولسوالۍ (موکه، کونج، دادوخيل، احمدخيل، سپين ديوال، قولزنګي او کوډي) کليو چاپې وهلې، خلکو ته يې پراخ مالي تاوانونه رسولي او په پای کې يې په سيمه کې د يوې مدرسې اووه تنه حافظان او دوه خادمان شهيدان کړي او يو شمېر کليوال يې بنديان کړي دي.

دمئ په ۱۴مه د ننګرهار ولايت دخوګيانيو ولسوالۍ په ګنګه خيلو سيمه کې يرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال درې تنه ولسي وکړي شهيدان او پنځه تنه بنديان کړي دي.

دمئ په ۱۶مه دهلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ ددیوالک په سیمه کې د یرغلګرو په ډرون حمله کې پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

دمئ په ۱۸مه د ننګرهار ولایت دخوګیانیو ولسوالۍ دټټنګ په لوی کلي باندې ګډو ځواکونو چاپه وهلې، د کلیوالو کورونه یې په بمونو الوزولي، قیمتي شیان او پیسې یې ترې وړي او په اخر کې یې دوه تنه ملکي وګړي (اشرف او زمری) شهیدان کړي دي.

د مئ په ۱۸مه دفاریاب ولایت دچهلګزي ولسوالۍ مرکز کې یرغلګرو یو ملکي کلینک بمبارکړی چې له امله یې کلینیک او طبي وسایلو ته زیان او ښتی دی.

دمئ په ۱۸مه د هلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ د قلعه ګز د طاق مسجد په سیمه کې ګډو ځواکونو د چاپې په مهال اته تنه ملکي وګړي شهیدان کړي دي.

دمئ په ۱۸مه د غزني ولایت د ده یک ولسوالۍ په توپیر سیمه کې داشغالګرو په ډرون حمله کې درې تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د مئ په ۱۹مه دکندهار ولایت شاولیکوټ ولسوالۍ البک کاریز سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال اووه تنه ولسي وګړي شهیدان او دوه کسان ژوبل کړي دي.

دمئ په ۱۹مه د فراه ولایت دفراه رود ولسوالۍ په تپه سادات، عبدالله خیلو، تودنک او نو آباد سیمو کې داشغالګرو په ډرون بریدونو کې پنځه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

دمئ په ۱۹مه د هلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ د سیدانو په سیمه کې اشغالګرو او حکومتي عسکرو د خلکو په کورونو چاپه وهلې، د ګڼو کورونو دروازې یې ماتې کړې، خلک یې سخت وهلي، له کورونو څخه یې قیمتې توکي وړي او وروسته یې پرسیمه بمبار کړی چې له امله یې شپږ تنه کوچنیان او ښځې شهیدان شوي او لس تنه ټپیان شوي دي.

دمئ په ۱۹مه دهرات ولایت دشیندنډ ولسوالۍ د پشتکوه او کل په سیمه کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال دوه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي دي.

دمئ په ۲۰مه ګډو ځواکونو د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ په توکرک دره، عمرخیلو بازار او دادل تنګي کې دچاپې په مهال پنځه تنه ملکي وګړي شهیدان کړي او دخلکو ګڼ نقلیه وسایط یې سوځولي دي.

دمئ په ۲۰مه د میدان وردګ ولایت دسیداباد ولسوالۍ د تنګې درې په جوی زرین سیمه کې دیرغلګرو په ډرون برید کې درې تنه ماشومان چې غره ته دلرګیو راوړلو لپاره تللي وو، شهیدان شوي دي

دمئ په ۲۰مه دغزني ولایت د ده یک ولسوالۍ بالای، سلیمانزو، شهاب الدین کلا، کریم داد کلا او عباد کلا باندې ګډو ځواکونو چاپې وهلې، ګډو ځواکونو دلته هم دخپل معمول سره سم د خلکو کورونه په بمونو الوزولي، د صالح محمد، عبدالمنان،

پیر محمد او محمد انور په نوم څلور تنه کلیوال یې شهیدان کړي او نولس تنه ولسي. وګړي یې بندیان کړي دي.

دمۍ په ۲۳مه دفراه ولایت دشیبکوه ولسوالۍ په کین کلي کې یرغلګرو د یوې خیریه مؤسسې ((EHSAN چې د C. H. A (coordination of humanitarian assistance) اداري اړوند مؤسسه ده، مرکز بمبار کړی، چې له امله یې دمؤسسې همدغه مرکز له ټولو لوازماتوسره ویجاړ شوی او ماشومانو ته د غذا ورکوني پروژې مدیر عبدالحمید او یوتن کارمند یې (عبدالرحیم) شهیدان شوي دي.

د مۍ په ۲۴مه هلمند ولایت دموسی قلعه ولسوالۍ دجنجالې په سیمه کې د اشغالګرو په ډرون حمله کې څلور تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

دمۍ په ۲۴مه دهلمند ولایت دسنګین ولسوالۍ سره بند سیمه کې دیرغلګرو په ډرون حمله کې درې تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

په ۲۴مه دپکتیکا ولایت دارګون ولسوالۍ په پیرکوتي سیمه کې دګډو ځواکونو په چاپه کې پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

دمۍ په ۲۴مه د ننګرهارولایت شیرازدو ولسوالۍ د طوطو سیمې په ګرځیلو او صده خیلو کلیو کې ګډو ځواکونو دچاپو په مهال دوه کورونه، دوه مسجدونه ویجاړ کړي او شپږ تنه ملکي وګړي یې شهیدان کړي دي.

دمۍ په ۲۵مه د هلمند ولایت دکجکي ولسوالۍ د زمینداور په کاریز سیمه کې یرغلګرو په یوه محبس بمبار کړی چې له امله یې پنځه تنه اسیر عسکر چې له طالبانو سره بندیان وو له منځه تللي دي.

دمۍ په ۲۵مه دفاریاب ولایت ددولت اباد ولسوالۍ د قوزبای قلعه په سیمه کې دحکومتي ځواکونو دهاوان په ډزو کې یوه ښځه اودرې نارینه شهیدان شوي دي.

دمۍ په ۲۶مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ د قلعه ګز د دښت په سیمه کې دیرغلګرو په ډرون حمله کې درې تنه ولسي وګړي د روژه مات په مهال شهیدان شوي دي.

دمۍ په ۲۶مه د پکتیا ولایت مرکز ګردېز په ابراهیم خېلو سیمه داخلي عسکرو د رحیم الدین په نوم یو ښوونکی شهید کړی دی.

دمۍ په ۲۷مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ د زمبولي او دادم خان سیمو کې دګډو ځواکونو په بمبار کې پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان او دوه کسان ټپیان شوي دي.

دمۍ په ۲۷مه د میدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ د تنګي درې پرګلاب خیلو اوسپین ورسک کلیو ګډو ځواکونو چاپه وهلې، د سپین ورسک او کوټ کلي دوه جوماتونه یې ویجاړ کړي، دوه تنه ملکي وګړي یې شهیدان او درې نفره ټپیان کړي دي.

دمۍ په ۲۷مه د پکتیکا ولایت دبرمل ولسوالۍ په ماستو سیمه کې پنځه تنه قومي مشران (قومي

مشر کلام خان، قومي مشر ماشوم خان، قومي مشر ضميرخان، قومي مشرشيرګل او قومي مشر ولي خان) چې د زيړوک ولسوالۍ ورژانه کلي اوسيدونکي وو ديرغلګرو په هوايي برید کې شهيدان شوي دي.

دمۍ په ۲۷مه د هلمند ولايت دسنګين ولسوالۍ دمانده په سيمه کې ديرغلګرو په ډرون حمله کې پنځه نفره ملکي هيوادوال شهيدان شوي دي.

د مۍ په ۲۷مه د پکتيا ولايت دجانې خيلو ولسوالۍ په ورګوړه کلي باندې يرغلګرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې، خلکو ته يې مالي تاوانونه رسولي او يولس تنه ملکي وګړي يې شهيدان کړي دي.

د مۍ په ۲۷مه د پکتيکا ولايت دبرمل ولسوالۍ د ميامیو په سيمه کې ګډو ځواکونو چاپه وهلې، د ګڼو کورونو دروازې يې ماتې کړې، مالونه يې لوټ کړي، او دښځو او ماشومانو په ګډون يې اتلس تنه ملکي هيوادوال يو- يو مخامخ ويشتلي او شهيدان کړي دي

دمۍ په ۲۸مه دهلمند ولايت دکجکي ولسوالۍ د چهلګزي په سيمه کې يرغلګرو پر يو دکان ډرون برید کړی، په دغه برید کې په دکان کې ناست لس تنه ملکي هيوادوال شهيدان شوي دي.

دمۍ په ۲۸مه ګډو ځواکونو د غزني دشلګرولسوالۍ د ملنګو په کلي کې دچاپې په مهال دري تنه ولسي وګړي شهيدان کړي دي.

دمۍ په ۲۹مه دهلمند ولايت دنوزاد ولسوالۍ د انګرک په سيمه کې ديرغلګرو په ډرون حمله کې دوه تنه ملکي وګړي شهيدان شوي دي.

دمۍ په ۳۱مه د هلمندولايت دګرشک ولسوالۍ دنهرسراج ديخچال په سيمه کې يرغلګرو دخياطۍ پر يو دکان ډرون حمله کړې، چې له املې يې څلور تنه شهيدان او دوه نفره ټپيان شوي دي.

دمۍ په ۳۱مه يرغلګرو او حکومتي ځواکونو دهلمند ولايت د مارجې ولسوالۍ دچورچهارراهي په سيمه کې دملکي خلکوپرکورنو او بازار چاپه وهلې، دکورونو او دوکانونو دروازې يې ماتې کړې، کتابفروشۍ، دخوراکي توکو او جامو٦٢ دوکانونه يې له چور کولو وروسته ويجاړ اوسوځولي دي، دولسي- خلکو ۲۰ عرادې موټر سايکلونه يې سوځولي او په اخر کې يې يو ملکي سړی او ماشوم شهيدان کړي دي.

مأخذونه: [بي بي سي راډيو، ازادي =، افغان اسلامي اژانس، پژواک =، خبريال ويپانه، لراوبر=، نن ټکی اسيا=اوبينوا=]

د مورچل وږمي

د توحید بیرغ

عرفان اللّه عرفاني

د توحید سپین بیرغ رپاند غواړو مونږ
ټوله نړۍ کې یې ځلاند غواړو مونږ

چې د قرآن د تنفیذ هڅه کوي
داسې وګړي تل هڅاند غواړو مونږ

په اسلامي، قانون چې ښه پوهېږي
مصدر دعلم لوی پوهاند غواړو مونږ

موږ د منبر سره سنګر هم پالو
دا انقلاب همداسې تاند غواړو مونږ

په جار کوو حقه نعره د جهاد
پر باطل برید مست او څپاند غواړو مونږ

مرهم، پټۍ چې ټول ټپي زړګي کړي
مظلوم، ملت ته یو زړه سواند غواړو مونږ

(عرفاني) غواړو ښېرازي د وطن
کفري برجونه په لړزاند غواړو مونږ

دسکروټو پر سرونو

الیاس فاتح

منزل ته دې نږدې شوې فاصلې طالبه ګرانه
ساته دې وسپنیزې حوصلې طالبه ګرانه

مزلونه دې وهلي د سکروټو پر سرونو
مضبوطې کړه زخمي، تڼاکې پښې طالبه ګرانه

سپین مخ دې په تیاره تیاره نړۍ کې رڼا شیندي
اللّه دې امت نکړي بې ډیوې طالبه ګرانه

که هرڅه کیږي؛ ودې شي خو هیڅ دې ماتې نشي
ستا شوې له زخمو سره وعدې طالبه ګرانه

دامن په بهار ورته ګلزار افغانستان کړه
بلبل ملت دې تل وایي نغمې طالبه ګرانه

دستا د تاریخ سازو قربانیو په ستایلو
ژوندۍ دي د فاتح مړاوې مسرې طالبه ګرانه

غزل

فکرمل

په هر چاکې چه پیدا صفت د جنګ شي
هغه ربه تاته ګران او ستا په څنګ شي

د دنیا شان یې هیڅ نه رسیږی شان ته
چه د فضل په پَوریو دې څوک دنګ شي

دخپل وخت ابدال اوقطب ورنه جوړشي
د حالاتو اوربلونه پرې راچنګ شي

د مظلوم زړهٔ ته تسل تسل شي
خو ظالم ته د ذلت د خطر زنګ شي

حقیقت کې بادشاهي کوي په زړونو
په مجازکې څه شی نلري ملنګ شي

د محبوب د عشق له درده مزې اخلي
د اورونو سرې شغلې ورته پالنګ شي

د حورانو د خمارو سترګو ښکار شي
د سنګر رنګینه غېږه کې را رنګ شي

فکرمل د هغې ورځې په ارمان دی
چه شهیدوی ستا په مینه باندې رنګ شي

ډار نه پیژنم

حنفي زرمتی

جنګ کې پیدا جنګ کې لوی شوی یم ډار نه پېژنم
زخم په زړه وړم پر بدن هیڅ پرهر نه پېژنم

په تر ږمیو کې د رعد په شانته لاره باسم
وړانګې د لمر ځل د سپوږمۍ او سهار نه پېژنم

ژوند تیروم د مړاوي ګل په شان خزان غېږه کې
غږ د بلبل عشق د بورا، او بهار نه پېژنم

کور مې شو وران ورور مې شهید پلارجان مې جبل کې اوسي
ته وا چې څنګه به چاپه او بمبار نه پېژنم؟

د سر او مال پلورل بدل کې پرې جنت پېرېدل
بې د الله ﷻ له لارې بل داسې ښار نه پېژنم

زه «حنفي» د پښتنو شډل جامه خوښوم
ساده سړی یمه کوم ډَوُل سینګار نه پېژنم

۲۰۱۹ زکال

د مـــئ د میاشتې جهادي خبرونه





د کوچني اختر په مناسبت د عالیقدر امیر المؤمنین لخوا لیږل شوی پیغام
دهیواد په بېلابېلو ولایتونو کې خلکو ته توزیع او ابلاغ شو

د اختر په لومړیو درېو ورځو کې د طالبانو له خوا د نا اعلان شوي اوربند سره سره بیا هم امریکایي بلواګرو او دهغوي د غلام رژیم عسکرو په ګڼو ولایتونو کې د عامو خلکو کورونه، حجرې او جوماتونه په بمونو والوزول

MORCHAL

Islamic, Jihady , Educational
and Cultural Monthly Journal

انځور حقایق څرګندوي، چې ملکي خلک او دملکی خلکو له کورونو څخه څوک دسپر په ډول کار اخلي؟!!